PROPERTY OF ACKU

هفته نامه

دجهاد هنداره

مـــراة الجـــهـــاد

لومړی کال ، ٤٦ گڼه چهارشنبه د ۱۳۷۰ هـ ش کال د ۱ سد ۹ مه

ولسوالي هاي «رستاق» و «ينگي قلعه» در ولايت تخار فتح گرديد

درصفحه (٥)

مواضع رژيم درمسير راه سروبی ، الی بگرامی تحت ضربات مجاهدين واقع شد

کابل ،٦ اسد

طی عمليات متحدوهم اهنگ مواضع واستحکامات نظامی رژيم کابل از سروبی الی فابريکه نساجی بگرامی در ۱۸ کيلو متری شهر کابل زير اتش سلاح ثقيل قرارداده شد .

به گزارش مخابروی قوماندان محمد انور خان امر جبهات جگدلك ولسوالی سروبی ، به کميته سياسی شورای سرتاسری قوماندانان درپشاور عمليات جهادی ساعت ٤ صبح روز ٦ اسد برمواضع رژيم کابل به استقامت ملنگ واقع منطقه بت خاك در ۱۰ کيلو متری ولسوالی بگرامی اغاز يافته که بشدت هرچه تمامتر ادامه دارد .

دجهادي عملياتو دسمبالښت په خاطر مولوي محمد يونس خالص دننگرهار ولايت ته ولاړ

دافغانستان داسلامي حزب نماينده دجهاد هنداري خبريال ته رپوټ ورکړچي محترم مولوي يونس خالص دننگرهار په ولايت کي دجهادي عملياتو درهبري ، څيڅکتيا اوسمبالښت لپاره داسدپه ٤ نيټه دجمعې په ورځ دننگرهار ولايت ته ولاړ .

رپوټ څرگندوي چي پدې ولايت کي دمجاهدينو له خوا ددښمن پر نظامي قرارگاو باندې يو مخيز اوگډ عمليات پيل شوي دي چي دتلفاتو رپوټ به يې په راتلونکي کي خپورشي .

له محترم مولوي خالص صاحب سره ددوي مرستيال حاجي دين محمد اوداسلامي حزب نور اراکين هم ملگري دي

دبگرام په هوايی ډگر دمجاهدينو بريدونه

پروان ، ميډيا :

دپروان له ولايت نه ميډيا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدينو دسرطان په ۳۰مه نيټه دبگرام پرهوايی ډگراوشاوخوا امنيتي پوستو بريد وکړ چی دهغی په نتيجه کی درژيم يوه پوسته فتح اودرژيم دقواو يو شمير ځالی ويجاړی شويدي .

رپوټ زياتوی پدی سيمه کی دکابل رژيم دری تنه صاحب منصبان او ۱۰تنه عسکرنخپلو وسلو سره له مجاهدينو سره يوځای شويدي .

دغه راز مجاهدينو دقوماندان امير جان په مشرئ دسرطان په ۲۸ مه نيټه دپروان په ولايت کی دبگرام دهوايی ډگرپه نوی جوړشوی سرك کی ديو کمين په ترڅ کی دکابل رژيم دقواو څخه دری عرادی ټانکونه ويجاړ او ۱۳ تنه عسکراومليشه يی وژلی او۸ تنه نور يی ټپيان کړيدی .

په رپوټ کی ويل شوی چی پدی نښته کی دمجاهدينو له خوا څلور تنه ټپيان شول .

دکابل په ښارکی دبمونو دوه چاودنی

کابل داسد ، ٦مه:

درارسيدلو خبرونو سره سم دشنبی په ورځ دسهار په څلورو بجو دکابل په ښار کی دبمونو دوه زوروری چاودنی وشوی چی ټول ښار يی ولړزاوه په خبرکی زياته شوی چی دچاودنو سره سم په ټول ښار برق قطع شو اودکابل ښارپه تياروکی ډوب شو ، خوتر اوسه پوری دکابل گوډاگی رژيم دبمونو په چاودنه اودبرق دقطع کيدلو دجريان په هکله کوم عکس العمل ندي ښودلی .

دلوگر دتنگی واغجان سيمه اودری ستر سنگرونه دکابل رژيم له قواو نه دوباره ونيول شول

لوگر ، ميډيا :

دلوگر ولايت داوو تنظيمونو شورا دراډيويی پيغام په واسطه ميډيا ته خبرورکړل شوی چی دلوگر مجاهدينو دهغه پراخو تعرضی بريدونو په ترڅ کی چی داسد په ٥ مه نيټه دکابل رژيم په مرکزپل علم ، تنگی واغجان ، توره غوندی ، کنجك اودلشکرايشار په پخوانی مرکز باندی ددرندو وسلو په ډزو سره ترڼوی قوماندی لاندی پيل کړل چی په دوه ساعته جگړه کی دتنگی واغجان ، دکنجك شفاخانه ياتوره غونډی اودلشکرايشارد پخوانی مرکزستراتيژيکی سيمی دوباره درژيم دقواو څخه ونيول شول.

دخبر مطابق پدغه جگړه کی رژيم ته سخت ځانی اومالی تلفات اوړيدلی دی ، دبلی خوا مجاهدينو دلوگر په مرکز پل علم،محمد اغه ولسوالی او دعلی ملنگ په پوسته باند ی سختی راکټی حملی پيل کړی چی ددواړو خوا دتلفاتو په باره کی څه ندی ويل شوی .

دغه راز کمونستی قواو دبی- ام ٤١ اووراکان توغنديو، دی سی توپونواو جيټ الوتکو په واسطه ټوله منطقه دمتقابله اورلاندی نيولی چی يو شمير ودانی ړنگی اوبسرزيان په باره کی رپوټ ندی رسيدلی اوسخته جگړه دوام لری .

خبر ځای په پای کی وويل چی دمجاهدينوپدغه لوی فتحی سره دلوگر ولايت ډيری سيمی درژيم له قواو نه ازادی شوی کومی چی دسپرلی دسختی يخنی اودسيند داوبو دلوړيدلو له امله درژيم قواو نيولی وی .

دکابل رژيم لخوا په لنډی خيبر دسکړ توغنديو حمله

پيښور داسد ٦مه:

تيره ورځ ديکشنبی په ورځ اته نيمی بجی دکابل دمزدور رژيم لخوا دجلال اباد اوتورخم ترمنځ دلنډی خيبر په سيمه د لری ويشتونکی سکړ توغندی حمله وشوه .

چی تراوسه پوری دځانی اومالی تاوان پوره خبر ندی ترلاسه شوی دخبر سره سم ويل شويدی چی مزدور رژيم دمجاهدينو په مرکزونو باندی خپلی هوايی حملی هم تيزی کړيدی .

دمجاهد غږ راډيو لوي مدير مولانا محمد اسحق نظامي له جهاد هنداري سره په مرکه کي :

د راډيويي خپرونو ستره وظيفه دا ذهانو روښانول اوپر حقايقو اوواقعيتونو دخلکو خبرول دي

په دوهم مخ

په هرات کې د دښمن مرکزونه وځپل شول

دوهم مخ

ولسوالی چاه اب تخار بدست مجاهدين فتح شد

تخار ، ميديا :

به گزارش منابع مجاهدين ولسوالی چاه اب ولايت تخار درجنوب سرحد روسيه وپيوست به دريای امو بتاريخ ٤ اسد بدست مجاهدين افتاد .

بافتح ولسوالی چاه اب ولسوالی رستاق وعلاقه داری شهربزرگ در همسايگی ان درمحاصره شديد مجاهدين درامده وسقوط انرا دراينده نزديك ممکن ساخته است .

ولسوالی چاه اب ازموقعيت ستراتيژيك برخوردار است که پايگاه مهم رژيم درمنطقه محسوب ميگردد .

درولايت کندز يك پوسته فتح شد

درراپور های رسيده ازولايت کندز به ميديا گفته شده که مجاهدين به روز ۲۸ سرطان ، پوسته های واقع سرك کندز - بغلان درسه کيلومتری شرق ميدان هوايی کندز عمليات پيروزمندانه انجام دادند.

طبق گزارش درنتيجه يك پوسته رژيم کمونستی کابل مربوط مليشای سيد کيان فتح ۱۱ ميل سلاح خفيفه وسه ميل سلاح ثقيل ، يك پايه مخابره آر ۱۰۷ به غنيمت مجاهدين درامد .

راپور می افزايد ۱۳ تن ازمليشه های کيان نيز درجريان عمليات به اسارت گرفته شدند .

سرمقاله

دافغانستان دربړی دحل په نوم دنويو هڅو نوی ښې

دخپروشوو خبرونو له مخی دايران دبهرنيو چارو وزير علی اکبر ولايتی پاکستان ته راغلی چی ددغه هيواد له مقاماتو سره دافغانستان دربړی دحل په رابطه په يوه گډ اجلاس کی غوراو بحث وکړی .

له ښاغلی ولايتی سره په اير ان کی دميشته مجاهدينو هيئت هم راغلی او ويل کيږی چی په دغه گډ وغونډو کی به له پاکستان او ايرانی مقاماتو پرته په پاکستان اوايران کی ميشته دمجاهدينو مشران او استازی هم برخه اخلی،

که څه هم تراوسه ددغه خبرو کومه اجنداء نده وړاندی

۸ مخ

اعلاميه مشترك شوراي علماو شوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان

درصفحه (٦)

په فارياب کی مجاهدينو دری کلی ازاد کړل

دفارياب ولايت څخه ميديا ته رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدينودسرطان په ۲۹ مه نيټه دپشتون کوټ ولسوالی دجمعه بازار مليشه پوستو باندی عمليات پيل کړل او دشباختو ، خواجه خوشری اوپخلتوغی دری کلی دکمونستی رژيم دمنگلو څخه ازاد کړی

خبروايی مجاهدينو ټولی پوستی اوسنگرونه فتح اودمليشه مشهور قوماندان اسلم يی د۱۲ تنو پلويانو سره ژوندی نيولی اوهمدارنگه دميمني اومزار شريف ترمنځ لويه لاره يی دترافيکو پرمخ بنده کړيده

ترهغه چي په کابل کي دروسانو مزدور رژيم موجود وي دافغانستان دقضيي هيڅ ډول سياسي حل امکان نلري

الحاج حقاني

دجهاد هنداره

مؤسس : الحاج مولانا جلال الدین حقاني

دتاسیس کال : ۱۳٦۹ هـ ش

دراډیویي خپرونو ستره وظیفه دا ذهانو روښانول اوپر حقایقو او واقعیتونو دخلکو خبرول دي

پوښتنه:
لطفاً په لنډو تکیو کی درنو لوستونکو ته خپل ځان معرفی کړی ؟

بسم الله الرحمن الرحیم
نحمده ونصلی علی رسوله الکریم
وبعد : زمانوم محمد اسحق نظامی دمولوی نظام الدین زوی دننګرهارولایت دکوزکنړ ولسوالی دبډیالی نومی سیمی اوسیدونکی یم فعلاًمې دمجاهد غږ راډیو دلوی مدیر دنده اومسولیت په غاړه دی.

پوښتنه:
که دمجاهد غږ راډیو دتاسیس اودهغه دمرستندویه منابعو په هکله لوستونکو ته څه ووایی ؟

ځواب : دمجاهد غږ راډیو زموږ دهیواد دجنوبی جبهاتو دعمومی قوماندان مجاهد وروړ محترم الحاج مولوی جلال الدین حقانی له خوا تاسیس شوی اوهم ټول مصارفات ده په غاړه اخیستی دي.

پداسی حال کی چې په لومړی سرکې چې کله دده له لوری دراډیو مسولیت ماته سپارل کیده دپنځلسو شپاړسو ملګرو په وړاندی یې راته وویل چې ته اوخپل خدای (ج) دي چې هیڅ تنظیمی لسانی،هغه اودغه اړیکی به په پام کې نه نیسی اوان تردي چې که زما نوم هم په هغه ځای کې چې دجهاد لپاره کټور او زیات ضرور نه وو ، واخیستل شو نوپه ورځ داخرت به خدای (ج) ته ته مسئول یی مطلب داچی دا راډیو باید داسی په کار واچول شی چی دټول ملت نه نمایندګی وکړی اودمسلمان مظلوم مجاهد ملت دزړه فریاد دخلکو غوږونو ته ورسول شی .

پوښتنه :
فعلاً ددغه راډیو نشراتی فعالیتونه څه ډول دی ؟
مطلب داچی : دورځی څو ځل دڅومره وخت لپاره خپرونه کوی
په کومو ژبو خپرونه کوی
کوم ، کوم پروګرامونه لری
ځواب : فعلاً دورځی دوه ځله خپرونی لرو سهار او ماښام سهار دافغانستان په وخت له پنځو نیمو ښځه تر شپږو نیمو بجو پوری اوماښام له پاوکم اوویجو ښځه تر پاوباندی اتو بجو پوری ، شپه او ورځ دوه نیم ساعته دګردیز لپاره په منځنی څپه یعنی میدیم ۱۲۰۰ کیوهرتز اودلری علاقو لپاره په لنډه څپه یعنی اول شارټ ۳.۲ میګاهرتز چی له ۹۰ میتربینډ او ۵.۸ میګاهرتز چی له ٤۹ میتربینډ سره سمون خوری خپریږی خودلری علاقو اوریدونکی کولای شی چی دلنډی څپی یعنی اول شارټ ۳.۲ میګاهرتز چی له ۹۰ متربینډ سره سمون خوری څپه تعقیب کړی ځکه چی ددي دستګاه قوت زیات اوصافه غږیږی .

اوپه اوسنی وخت کې ددې لپاره چی زموږ دخپرونی وخت لږ دی سیاسی تبصرو ورځنیو پیښو ، دینی موعظو ، خبرونو ، جهاد دمطبوعاتو په هنداره کی،دښمن دحقایقو په هنداره کی،جهاد دشعر اوادب په هنداره کی دجهادی مشرانو قوماندانانو اومجاهدینو تسلیم شویو منصبدارانو عسکرو اوملیشو مزکی اودګرانو اوریدونکو دلاخوښی په خاطر په زړه پوری ترانو اوشعرونو ته ځای ورکړل شوی دی .

پوښتنه:
دخوست دفتحې په عملیاتو کی ددی راډیو دخپرونو رول څه ؤ؟
ځواب : دخوست دفتحی دعملیاتو نه دمخه تقریباً دری میاشتی زموږ خپرونه عادی وه هغه پدې معنی چې په هغه وخت کې مورلـه اوږدو موعظو اوتبصرونه کاراخیست ترڅو دمجاهدینو او جانب مقابل (ملحد دښمن) ذهنیتونه په واقعیتونو او حقایقو ښه روښانه شی خودخوست دفتحی دعملیاتو په جریان کی دراډیو خپرونو ته مو هم تغیر ورکړاوهغه داسی چی یو مو ورته فوق العاده پروګرامونه برابرکړل چی په هغه کی مجاهدینو ته دقرانی ایاتونو اونبوی احادیثو په رڼا کی حاصی توصی وی مثلاً سپین ږیری ، ښځی ماشومان ضعیفان اوناروغان ورنه ازارنه شی که څوك وسله په مځکه وغورزوی اوتسلیم شی ورته پناه اوامن ورکړی اوداسی نور ... اوهم دملحد دولت منسوبینو ته دعوت ورکول کیده اودعفوی فرمانونه صادریدل ، مجاهد

> دورځې دوه ځله خپروني لرو سهار او ماښام ، سهار دافغانستان په وخت له پنځه نيمو بجو ښځه ترشپږنیمو بجو پوري او ماښام له پاوکم اووبجو ښځه تر پاوباندي اتو بجو پوري ، چې دواړه خپروني دوه نيم ساعته وخت نيسي

وروړ محترم حقانی صاحب که له یو ی خوا دجهاد سنګر په خپل موجودیت تود ساتلی وونو په تبلیغاتی سنګر کی یی هم فعاله برخه درلوده اوهرساعت اولحظه به یی له دغی راډیو ښځه تولو ته دعفوی اطمینان ورکولو همداوجه وه چی نن دوست اودښمن مجاهدین اومهاجرین اودخوست اوسیدونکی پدی اقرار کوی چی همدغی راډیو خاصی خپرونی اودحقانی صاحب دعفوی فرمانونه اواطمینان ورکول واحده قومانده اوګرمه جګړه وه چی خدای خوست فتحه کړو اګرکه پدی ارتباط دراډیو زیات فعالیتونه شته خودتولو ځای کول په جهاد هنداره کی یو څه مشکل بریښی نو په همدی به اکتفا وکړو .

پوښتنه :
خومره پرسونل دپروګرامونو چاری پرمخ بیایی؟
ځواب : څلور دیرش کسان په مرکز کې اوپه هری نشراتی دستګاه کې چې ټولی دری دستګاه دی دوه دوه کسان کارکوی چی په مجموع کی ٤۰ تنه کیږی .

پوښتنه :
دخپرونو له پاره مواد له کومو لارو تهیه کوی؟
ځواب : دتبصرو په هکله خاص وروڼه لرو چی ورځنی حالات څیړی اوپه هغه بیا دحقیقت له مخی یوڅه لیکی همدغه راز موعظی،ترانی،شعرونه هم اوخبرونه دمخابری له لاری چی زموږ مرکزی مخابره دافغانستان له اکثرو جهادی مرکزونو سره ارتباط لری تهیه کوو .

پوښتنه :
ستاسی خپرونی ترکومو سالحو پوری اوریدل کیدای شی؟
ځواب : زموږ خپرونی په کابل او دافغانستان په اکثرو ولایاتو اوهم په پاکستان کی زموږ مهاجر اوانصار وروڼه اوریدلی شی

پوښتنه :
ددې راډیو دانکشاف لپاره کوم پلان ترلاس لاندی لری؟
؟
ځواب : هو اوس هم غواړو چی یو ساعت خپرونه دماسپښین له ۱۲ بجو څخه تریوی بجی پوری ولرو نور مربوط شیان اومواد یی هم برابر دی خوچی کله حقانی صاحب له سفره په خیر راشی سمدستی به پری شروع وشی فقط دهغه موجودیت اوافتتاحیه دعاته ضرورت دی اوس اوهم مودنورو خپرونو لکه ترانی اوشعرونه دزیاتوالی په خاطر چی ګران اوریدونکی دکسیټونو په وسیله پخپلو تیپونو کی ترینه استفاده وکړی یوه بله لویه ستوډیو جوړه کړیده .

پوښتنه :
دچارو پرمخبیولو کی څه ډول سهولتونه اوستونزی لری ؟
ځواب : دچارو دپرمخ بیولو لپاره لوی سهولیت دملګرو ترمنځ بشپړ صمیمیت او اخلاص دی تردی حده پوری چی هریو ملګری راډیو خپل جهادی اوچت سنګر ګنی اوبرسیره پخپل مکلفیت کوم چی اداری ورته سپارلی وی څوچنده کارکوی چی دملګرو دزیات کاراواخلاص لوی عامل دحقانی صاحب له لوری زیات اخلاص دی چی دستونزو دلری کولو اودپروګرامونو دپرمخ بیولو په هکله چی حقانی صاحب دراډیو په پیل کی له ملګرو سره ددوه قدمو داخیستو وعده کړیوه څو چنده زیات قدمونه یی اخیستی دي .

پوښتنه :
دمجاهدینو دعبوری حکومت له راډیو سره کوم نشراتی پیوستون لری اوکه دخپرونو پروګرامونه موله یوی مخی بیل دی ؟

پاتی په (۷) مخ

نیرنگ دیگر کریملین

عبدالوکیل

کمونست های روس بخاطر اسیرواستعمار نمودن مردم وملت ها، شیوه ها وتاکتیك های متنوع رابکار می برند . انها بعد از درگذشت « برژینف » بخاطر پنهان نمودن چهره منحوس واستعماری خویش طرح وپروگرام های جدید استعماری راتحت نام های گلاسنوست وپرسترویکا روی دست گرفتند . درسال ۱۹۱۷ م زمانیکه کمونست های روسی (بلشویك ها) قدرت سیاسی رادرروسیه غصب نمودند ، حزب کمونست ازقدرت عام وتام برخوردار گردید لاکن به میان امدن دستگاه پولیس مخفی که اکنون بنام «کی جی بی » یاد می گردد به مرور زمان قدرت سیاسی را ازحزب بخود منحصر می نمود وزمانیکه برژنیف منشی عمومی حزب کمونست روس بود درمقابل «کی جی بی» تاحدودی مشکلات راایجاد می نمود دراین مرحله ازیك سو برژنیف ازتحت تسلط اوردن کامل حزب کمونست توسط «کی جی بی » جلوگیری می کرد واز سوی دیگر داماد برژنیف که وزیر امور داخله آن کشور بود با سلطه «کی جی بی » بر آن وزارت مخالفت می کرد .

بعد از درگذشت برژنیف درسال ۱۹۸۲ م «اندروپوف » رئیس «کی جی بی » جای آنرا اشغال نمود «اندروپوف » وزیر داخله وعده دیگری ازمخالفین «کی جی بی » رااعدام نمود ودرمدت کم توانست تمام ارگان های حزبی ودولتی راتحت اراده وکنترول کامل «کی جی بی » دراورد . روی این ملحوظ دیگر ضرورت به یگانه حزب کمونست ایکه دربین مردم کشور دیکتاتوری کمونستی روس منفور شده بود ضرورت احساس نمی گردید .

درزمان قدرت «اندروپوف» تغیرات ظاهری وشکلی درساحات مختلف دستگاه حزبی ودولتی اغاز یافت ودرزمان قدرت «گرباچف» عملی نمودن پروگرام «اندروپوف » که توسط «کی جی بی » طرح ریزی شده بود وبعداً بنام پروگرام گلاسنوست وپرسترویکا اعلان گردید ، دوام یافت .

دراین مرحله ازیك طرف چهره اصلی استعمارخونخوار کمونستی روس در رابطه به مداخله نظامی ان ها درافغانستان هرچه بیشتر افشا گردید وازطرف دیگر توده های ملیونی تحت سلطه امپراتوری کمونستی روس ازحزب کمونست ، دولت ودولت داری کمونستان به ستوه امده بودند به این لحاظ «کی جی بی » برای فریب مردم به ستوه رسیده روسیه به سازمان های جدید سیاسی که شکلاً باحزب کمونست تفاوت داشته باشد ضرورت احساس نمود « شواردنادزی » ووزیر امورخارجه اسبق روس ، «بوریس یالتسین » رئیس جمهور روسیه سفید ویك تعداد از اعضای بلند پایه دیگر حزب کمونست روس را وادار به استعفاء ازحزب مذکور نمودند . هرگاه «کی جی بی » ضرورت تبدیلی تاکتیك فعلی رااحساس ننماید درانصورت دراینده نه چندان دور درپهلوی حزب کمونست روسیه به احزاب دیگر که ساخته وپرداخته «کی جی بی» خواهد بود اجازه فعالیت خواهد داد واشخاصیکه از حزب کمونست فعلی استعفا می دهند درحزب یااحزاب جدید موقعیت مرکزی را اختیار خواهند کرد این پروگرام «کی جی بی » مراحل عملی ابتدایی و امتحانی خویش را در اروپای شرقی وافغانستان می پیماید .

بعد از اعلام پروگرام پرسترویکاتوسط گرباچف در افغانستان نیز به زودترین فرصت توسط نجیب این دست نشانده « روس بازسازی های سیاسی رویدیست گرفته شد روند این همه نیرنگ ها وصحنه سازی ها در روس ، اروپای شرقی وافغانستان جریان دارد . این روند ازجهتی رویدست گرفته شد که روس ها دیگر به شیوه یی کهنی نمیتوانستند تسلط واقایی خویش رابالای مردم وملت های تحت ستم واستعمار انها درروسیه وجهان دوام بدهند .

مشابه رویداد های مذکور درافغانستان نیز یك تعداد از اشخاص سابقه دار از حزب وطن استعفا دادند ودر اینده نیز عده دیگری تحت بهانه های ساختگی ودروغین استعفا خواهد داد که هدف کریملین ازاین تغیرات ظاهری وفریبنده درحزب ودولت مزدور کابل اینست تاتضاد های ملیتی ،

در صفحه (۷)

په یوګوسلاویا کې اسلام څنګه خپور شو ؟

ژباړه : محمد سرور «صديقمل»

ديوګوسلاوی فيدرالی او اشتراکی جمهوريت دشپږو جمهوريتونو څخه تشکيل شوی چی نومونه يی دادی ۱- دبوسنی جمهوريت ۲- هرسك جمهوريت ۳- دجبل الاسود جمهوريت ٤- دکرواتيا جمهوريت ٥- ماکدونيا او ٦- سلوفينيا او صربيا چی هغه دوه ولايتونه تشکيلوی يوکوسوفو او بل فويفودينا ولايتونه دی .

ديوګوسلاوی مساحت ٥٥٨٠٤ مربع کيلومترو ته رسيږی داسيمه داروپا په جنوبی برخه کی موقعيت لری چی لويه برخه يی دبلقان په شبه جزيره کی موقعيت لری دحدودو اوږدوالی ۲۹٦۹ کيلومتره ده ديوګو سلاويا شمال لويديځ لوری ته ايتاليا او شمال ته يی نمسا او مجر هيوادونه پراته دی ديوګوسلاوی داوسيدونکو شمير تقريباً ۲٤ مليونو ته رسيږی پايتخت يی بلګراد دی مسلمانان دټول هيواد پنځه مليونه نفوس تشکيلوی چی نيم يی په بوسنه او هرسك کی او څنی نوری په ماکدونيا کی استوګنه کوی ددی سيمی اوسيدونکی دبيلابيلو قومونو او قبيلو سره تعلق لری دمثال په توګه کرواتيان ، ماکدونيان سلوفنيان البانيان مسلمانان صربيان ترکيان او داسی نور رنوويلی شو چی يوګوسلاويا دبيلابيلو قومونو او قبيلو هيواد دی ديوګو سلاوی اوسيدونکی په بيلا بيلو ژبو خبری کوی خو دماکدونی اسلونيته او صربيه ژبی خورا زياتی مشهوری دی البانيان په يوګوسلاوی کی دبالقان دټولو قومونو څخه پخوانی قوم شميرل کيږی .

په يوګوسلاويا کی څلور دينونه اوجود لری چی نومونه يی په داډول دی ۱- دارتودوکس دين کوم چی صربيانو او ماکدونيانو او همداراز دجبل اسود داوسيدونکو دين بلل کيږی . ۲- کاتوليك دين کوم چی دکرواتيانو سلوفنيانو دين بلل کيږی ۳- دپروتستانت دين کوم چی دځينو قبائلی خلکو دين دی ٤- داسلام دين کوم چی دمسلمانانو ، البانيانو ، ترکانو او نورو اوسيدونکو دين دی .

> **کله چي عثمانيانو بلقان بشپړ فتحه کړ دبالقان خلك دمسلمانانو له اخلاقو متاثرشول اوټولو اسلام قبول کړ.**

اوس داچی دی سيمی ته اسلام کله او دچا په لاس او څه ډول ورسيده ، دتاريخی څيړنو څخه په ګوته کيږی چی دی سيمی ته داسلام سپڅلی دين هغه وخت اورسيد چی مسلمانانو دغه سيمه نه وه فتحه کړی هغه وخت دبوسنی او دهرسك دسيمو خلکو دمسيحيت دين پيروان وو چی په «بوګوميل» يعنی دالله سره محبت کونکی په نوم يی شهرت درلود ، اوداهم ويل شويدی چی ددی دين دعقايد او عبادت داسلامی عباداتو دعقائد وسره نږدی والی درلود ، همداوجه وه چی دبوسنی دمسيحيانو کليسا دوی دملحدينو په نوم ياله کله چی دعثمانيانو دااوازی خپری شوی چی غواړی دختيځی اروپا سيمی فتحه کړی اوددی سيمی خلکو داسلام په باب خبری واوريدی نوپدی وپوهيدل چی اسلام ددوی سره په ځينو چاروکی ورته والی لری نومځکی له دی چی مسلمانان بلقان فتحه کړی ، ددی سيمی خلکو داسلام په قبلولو پيل وکړ ، کله چی عثمانيانو بلقان بشپړ فتحه کړ ددی سيمی خلکو عثمانی مسلمانانو له نږدی وليدل ددوی له اخلاقو څخه متاثر شول اوټولو اسلام قبول کړ اوايمان يی راوړ . نوهمداوجه ده چی مورخين پدی نظردی چی په يوګوسلاويا کی اسلام دزورله لاری ندی خپور شوی بلکه دخلکو په خپله خوښه خپور شويده اوله دی څخه ددی خبری دروغوالی جوتيږی په کومه کی چی ويل شويدی ، البانيانو ، اوکاتوليکيانو دعثمانيانو دواکمنی په دوره کی دزورله لاری اسلام قبول کړی وو نو پدوی لازم دی چی بيرته خپل پخوانی دين «نصرانيت» قبول کړی .

په يوګوسلاويا کی داسلام اومسلمانانو په باب دکمونستانو دريځ داپه ګوته کوی چی ۱۹٤٦ ميلادی کال دنومبردمياشتی له ۲۹ نيتی ددستور له مخی اسلامی شعار اوتعليمات ختم کړای شول ددی دستور له مخی کمونستانو داسلامی علومو فاکلته دبوسنی په مرکز (سرايفو) کی وتړله اوهم يی خسرويك کی لوه مهمی دينی مدرسی اودماکدونيا په مرکز کی دغازی عيسی بك مدرسه

وتړله برسيره پردی ټول دينی معهدونه چی په لويو ښارونو کی موجود وو اودقران کريم دپالولو مکتبونه ، مدرسی چی شمير يی زروته رسيده وتړل شوی ، شرعی محکمی لغوه اوپه ځای يی دسويسری دمدنی قانون رامنځ ته شو . ددی ترڅنګ دواعظانو ، خطيبانو امامانو مبلغينو اولارښوونکو وظيفی اومعاشونه هم لغوه کړای شوی ، دی څوروونکی اوداسلام دله مينځه وړونکی وضعی تر۱۲ کلو پوری په يوګوسلاويا کی جريان درلود پدی وخت کی جمهوررييس «تيتو» مصر اوپه منځنی ختيځ کی داسی نورو اسلامی هيوادونو ته سفرونه وکړل پدی توګه يی داسلامی هيوادو مشرانو سره اړيکی ټينګی کړی ، وضع ورو په ورو مخ پرښه کيدو شوه په

اووم مخ کي

په تيرپسی :

۳- دعشق اباد ښار «يوری» هم نولس کلن دی ، دڅانوی زده کړو ترسرته رسولو وروسته پوځ کی شامل کړای شو ، او وروسته هغه ته دمخابری په يوه مرکز کی دمخابری دمرستيال دنده وروسپارل شوه .

٤- د۱۷ کلن ځوان دمهماتو يك موټر سره يوځای ونيول شو ، هغه خپل نوم سرګی وښود دڅلور واړو ځوانو پوځيانو مشر صاحب منصب نکولايی ددوی په نمايندګی دځان اودملګرو کيسه بيان کړه ، دنيکولايی اودهغه دملګرو کيسه به دده په خپله ژبه واورو :

« زما په زړه کی دلوړو زده کړو دسرته رسولو او ښی دندی دلاس ته راوړلو هيلی موجونه وهل ، خوحکومت زما پرهيلو خاوری اباره کړی اودافغانستان پر ازغيو اوتيږو باندی ليت ، په ليت اوښتلو لپاره يی راوليږلم زه مجاهدينو په غزنی کی ونيولم اوزما ملګری يی «دګلدری» په سيمه کی ونيول

موږ په افغانستان کې څه وليدل؟

په افغانستان کې دنيول شوو روسي عسکرو خاطری :

دعوض الدين « صديقي » ژباړه

ماافغانستان ته تر راتګ دمخه دعشق اباد په پوځی اکاډمی کی لومړنی زده کړی کړی په دی دوران کی به دځوانانو ماغزه پريمنځل کيده ، هغوی ته به اطمينان ورکول کيده چی پر افغانستان دامريکا ، چين ، پاکستان اوغربی هيوادونو پوځيانو يرغل کړی ، داپوځيان دافغانستان پرزيی وژلو خلکو اوبزګرانو باندی ظلمونه کوی او روسان دافغانستان ددی وژلو خلکو دخلاصون اونجات په خاطرخپل پوځيان ورليږلی ، ترڅو هغه هيواد پوځی مداخلی وژغورل شی ، کله چی افغانستان ته راورسيدم ، حقايقو باندی وپوهيدم ، دروسانو پرته دلته دبل بهرنی هيواد پوځيان نه و ، ددی دروغو ترمعلوميدو وروسته زموږ دټولو ملګرو دلچسپی له دی جګړی سره ختمه شوه ، ما دسلګونو ځوانانو څخه اوريدلی ، چی دمجاهدينو سره يوځای کيدل غواړی خوموقع په لاس نه ورځی ، دبل لوری دروسانو پوځی مشران دروغو پروپاګندهم کول کوم

> **مجاهدين دخپلو بنديانو سره داسي رويه کوي لکه څنګه چي ديوه محترم او معزز انسان سره ښايي.**

خلك چی دمجاهدينو لاس ته ورغلل تروهلو وروسته هغه دتورو خاورو ميلمانه کوی ، خو حقيقت دلته ددی خبری پر عکس دی ، مجاهدين دخپلو بنديانو سره داسی رويه کوی لکه څنګه چی ديوه محترم او معزز انسان سره ښايی داسی فکرکوی چی دوی زموږ دښمنان نه وروڼه دی ، خو ددی پرعکس دروسی پوځيانو بياد احال دی چی بيوزلی او ورکوتی ماشومان وژنی اوبيا يی په ونو کی زوړندوی کړونډو ته اور ورته کوی اونور حيوانات له منځه وړی موږته به امرکيده ، دافغانانو يوماشوم هم خپل ملګری ونه بولی ، کيدای شی هغوی پرکاليو کی توره پټه کړی وی اوستاسو په سينو کی دننه باسی ، په دی دوران کی چی ماته دکومو ښارونو ، کليو او ولسواليو دليدو موقع په لاس راغله ماپه دی ښارونو کی يوه فيصد هم داسی خلك ونه ليدل چی دزړه له تل څخه دحکومت ملګری وی دکومو خلکوژبی چی دروسانو دکلاشينکوفونو اووسلوپه وړاندی بنديږی ، دهغوی په سترګو کی دکرکی اثار ليدل کيږی ماته يو روسی صاحب منصب وويل چی يواځی روسيه داتاوانونه ګالی ، که امريکا افغانستان ته راغلی وی اودروسانو په ځای يی خپل اويا زره پوځيان دمرګ خولی ته ورغورځولی وی نو دامريکا خلکو به پرواشنګټن حمله کړی وی او سپينه ماڼی به يی خښته په خښته له منځه وړی وای دپنجشير په سيمه کی ديوکال په ترڅ کی لس زره پوځيان ووژل شول ، دروسی مشران دوژل شوو پوځيانو دجسدونو په برخه کی ډير محتاطانه ګامونه پورته کوی ، تراوسه يی په رسمی ډول دوژل شو او ټپی شوو پوځيانو شمير نړيوالو ته نه دی اعلان کړی دزيات شمير وژل شوو پوځيانو مړی يی په غرونو او دښتوکی ښخ کړی ، حتی دهغوی خپلوانو ته په دی هکله هيڅ هم نه وای ، ښايی ځوك به يی دپوښتنی جرئت هم ونلری ترکومه چی روسی ته دافغانستان دجګړی دخبرونو دراليږلو پوری اړه نيسی ، دردونکی حقيقت دادی چی خپلو خلکو ته په دی باب هيڅ هم نه وايي ، دروسی په مطبوعاتو کی دافغانستان په باب خبرونه ډيرکم خپريږی ، که کله خپاره هم شی په هغو کی دروسانو ستاينه اوکارنامی بيان شوی وی ، دکومو بدنصيبوکورنيو چی زامن ، وروڼه او ميړونه دافغانستان په جګړی کې دلرګيو په شان سوزی ، هغوی ترمياشتو حتی کلونو وروسته دهغوی له وژلو خبريږی دواره څه کولی هم نشی مجبور دی صبروکړی اوکه زيات څه وکړی هغه به داوی چی ميندی اوپلرونه داعتراض په ډول ليکل شوی شعارونه لاسونو کی پورته کړی اوسرکونو ته راووځی پرتکو يادلرګيو پرتختو ليکل شوی وی :

موږ ته زامنو سره دليدو زمينه مساعده کړی ، موږ ته دزړه ټوټی بيرته راکړی خونه حکومت ددی شعارونو پرواکوی او نه دهغوی دزړونو ټوټی بيرته راګرځي

جهادي ادب

دقربانیو - انقلاب اودقیام فیصله
دهرکمر اوهرسنگر دانتقام فیصله
دچاپه زور - تزویر اوزرو پریکړه نشي کیدي
ملت به خپله کړي دخپل یون دانجام فیصله

دخیال سفر

شفیقی

زه دبهار په رویایی موسم کی
چی دهوس په توپانونو گډ شم
په زړه می مینه غورځنگونه وکړی
ورو-ورو دحسن په خیالونو گډشم

***

گورم گلان وی دسحر نسیم ته
اوړی رااوړی اتنهونهه کوی
اوښکی دپرخی یی پرپانهو پرتی
څومره نازونه ، مکیزونه کوی

***

کفن دواوری له وطنه تهول وی
اغوستی سیمی وی جامی ذحسن
په هسك هم جوړی تماشی ذستورو
لاندی هم پنډی قافلی دحسن

***

دښتی دری تهولی پرگلو پتهی
کرلی گل پرسمه اوغرپسرلی
دلمر له وړانگونه هم حسن اوری
جادوپوګړی جادو گرپسرلی

***

لکه زموږ دمظلومانو اوښکی
دغرو لمنو کی وی سپینی چینی
لکه اوبه نه وی سیماب بهیږی
لاندی سیندونه پاس زری شرشری

***

ناڅاپه گورمه سورااوربل شی
لمبی خوری شی سمه اوغرونیسی
توری لوخړی شی آسمان ته جگی
ورو ورو غځیږی مخ دلمر ونیسی

***

بس دتیارو حکمرانی جوړه شی
په تروږمیو کی هستی ډوبی شی
تمیز ددوست اوددښمن نشی
دومره شم پوه چی نیکمرغی ډوبی شی

***

اوچی می بیا لرئ ستړگی وغړیږی
زه په ویجاړو کندوالو ولاړیم
زړه می سکوت ته گبنهی ونیسی
هسی په تشو دیوالوولاړ یم

***

نه پسرلی وی نه نغمی دحسن
نه له گلونو نه وږمی لتهیږی
ورانی وی ، وینی وی اوساندی اورم
له هره لوریه دویر غږ خوریږی

لنډه کیسه: دشپونکي مرگ

سید شهریار

همغه زړه ابی کومه چی دخوشایو تهوکری په سر دسمڅی څخه رااوته : هو : همغه ایمانداره ژوندی خودی اوسی اوکه ژوندی نه وی نوخدای پاك خودی اوه واړه جنتونه په نصیب کړي څومره توره یی وکړه څومره ښه یی راسره وکړه اوله څومره پوهی اوتدبر څخه یی کار واخیست کنه نو موږ خو مزل له لاده باده ویستلی ؤ پښنو موشنی شنی تناکی نیولی وی اوپړسوب خوپی لاڅه کوی ؟دخدای پاك (ج) کاروته گوره په زوره مولاره چپه کړه اوولی به مو نه چپلوله تندی څومره وارخطا کړی ؤ په خوله کی مو یوه نزه لاړی هم نه وی پاتی : دغه اضافی مزل مو دچینی لپاره قبول کړو دغره په نیغه څوکه دچینی پلو راواوښتو په چینه کی موچی سپینی رڼی اوبه له لری په نظر شوی نو له پیری خوښی اوخوشحالی مو په زیړو مخو کی سُرخی وځغلیده اوپه مزل کی مو چابکی راوسته موږ به لادچینی نه کابو (۱۰۰) قدمه لری وُ چی له شانه راپسی دیوه نری ږغ

انگازی وشوی دیوه اوږده سکوت فضاپه همدغی غږ ماته شوه ځای پرځای ودریدو یوه خوا اوبله خوامو وکتل له مخامخ سمڅی نه یوه زړه ابی چی په سپین پاغونده سریی تور تکري اوډتیکري له پاسه یی زړه تهوکری ایښی وه راښکاره شوه :غازیانو ستړی مشی : له تنلو مو ځار اوقربان شم پام کوئ چی دچینی پلو

ونشی هغه وگوری چی یوه لاری اوڅلور تانکونه دغره بیخ ته دریدلی ماپخپلو سترگو ولیدل چی ۳۰، ۴۰ تنه روسان پدی لاره دکلو خواته کوز شول ماد سمڅی څخه ورته کاته پخپل کمزوری اوکم نظر می ولیدل چی په چینه کی یی څه خطا کړل گوری چی اوبه ونه څکی په دښمن څه باوردی رنگونه دی ورك شی :

ماچی دوربین له تندی څخه سترگوته راکوز کړاو دیوی لوی رنگه شنی اوتوری ډېری شاته شوم نودسرو کافرو په نخرو نخرو تگ می ترنظره شو هك پك شو چی څه وکړو ، صبرمو غنیمت وگاڼه یوه

خوا اوبله خوا مو ډډی ووهلی چی دمه مو وخیژی اوبیا ځان مقاومت ته تیار کړو نه می هیریږی مالاپه دوربین کی ورته کاته چی دلسو کلو یوکوچنی چی زوړ کوچانی واسکت ، زړه سپینه خولی اوتوری دکتان جامی یی په ځان وی یوه خوا اوبله خوایی کانی ویشتل شپیلی یی په لاس ، مچوغنده یی په اوږه پرته ۸،۷ دانی میږی او خرکوچانی غټ سپی یی په مخکی روان وُ .

سره مخامخ شول شپونکی چی روسان ولیدل شپیلی یُ

دواسکټ په غټ جیب کی کیښوده : موږ څه خبر وُ! موږ خو فکر کاوه چی کوچنی دی ویری به اخیستی وی ستړمشی به ورته کوی په څه پلمه به تری ځان خلاصوی ، خوداسی نه وه مچوغنده یی له اوږی رااخیسته کانی خو یی هسی هم مخی ته په ډیرو ډیرو پراته وُ دهیڅ شی کمی نه ؤ دمچوغندی په پتاخ کی یی نیم پاو قدرته کانی کیښود اوښی لاس یی څو کرته تاو کړ یوه سترگه یی

پاتې په (۵) مخ

انسان

خوشحال خټک

بیهوده په ځان غره دی داانسان
په ساړه ، په غارمه چینگه خوله حیران
لیونی ملال دلگیر دخوب په وړل کی
نه دلوږی نه دتندی لری توان
په یوه ذره خبره خوارخسته شی
په یوه ذره سر خوږی شی په ځان
په داهسی رنگ څو کبر ، ځولوپی کا
چی نظر یی له خودی وی په آسمان
واړه عمر تیر وی په دا غفلت کی
ترهغه پوری چی ومری په داشان
په ژوندون چی دخپل ځان فکرونه ، نه کا
پس له مرگه به هغه کاډیر آرمان
زاهدان ، شیخان وهرلوری ته ډیر دی
د«خوشحال خټك» په کار دی عارفان

دسیند په غاړه

مرحوم گل پاچاالفت

دنوي سبك اونوي ادب له کتاب څخه

دوچوړاگونو ددښتو او میروله څنگه سیند بهیږی مگر دغی وچی بیدیا ته اوبه نه ورکوی .

په داسی وچکالی کی چی په اوبو باندی سرو نه ماتیږی داسیند لکه شوم بخیل له موږ نه په شتاب تیریږی زموږ تندی ته نه گوری .

چی سیند په چپور اشی زموږ کورونه اوابادی ځمکی هم وړی زموږ پاگونه وچ وُ زموږ اباد پټی هم سیند ویوړه .

له موږنه هغه خوا همدغه سیند بل راز روان دی هلته دغسی ورانی نه کوی ، دومره بخل نلری ، دغه راز بی رحمی پکی نشته .

هلته دسیند په غاړه زرشویان له شگونه زر راباسی ماهی گیران په خرواړونو کبان نیسی ، ښکاریان هیلی ولی .

هلته له سیند نه ډیری لویی ویالی بیلی شویدی ، ډیرلوی پاگونه له اوبو لاندی شوه کلی اوښارونه آباد شوه ، باغونه سمسور شوه،شاړی ځمکی په حاصل اوثمرراغلی ، دغلو او میوو کمی نشته .

هلته دسیند په مخکښی بندونه جوړشوه ، دبریښنا ماشینونه نصب شوه فابریکی اوکارخانی په کارولویدی،خلق آباد اوماړه شوه.

داسیند ولی دلته دغسی دی هلته هغسی ؟

موږته په قار دی،په هغوی پیروزینه لری .

موږیی خواران پریښو دو هغوی یی آباد کړه.

زموږ گناه څه ده ؟ سیند ولی له موږسره بد کوی ؟

زموږ گناه دسیند په غاړه ده .

اه ! موږپخپله گناه پوه نشوو ، موږ گناه دسیند په غاړه واچوله .

دسیند په غاړه خوموږپراته یو .

په رښتیا چی دازموږ گناه ده دسیند نه ده .

سیند له چاسره دښمنی نلری .

سیند دهرچامنگی ډکوی هرتښری ته اوبه ورکوی اودهرچا جامی پاکوی .

سیند پوخ کارغواړی اوپاخه بندونه ورته په کار دی .

که زموږ کار پوخ وای اوزموږبندونه پاخه وای،زموږ ویالی به نه وچیدلی،زموږ دښتی هم به آبادی وی،زموږ پټی به اوبو نه وړل .

موږدسیند په بندوبست پوه نشو اوله سیند نه موکار وانخیست .

داسیند دژوند او حیات سیند دی ، په ده کی دورانی او ودانی دواړه قوتونه شته .

سیند پوهیږی اوله پوهانو سره ښه کوی څوك چی کار کوی اوکاریی پوخ وی هلته یی ودانی ته مخه وی .

چیرته چی ناپوهی وی او کار نه وی هلته ورانی کوی . ددغسی خلقو کورونه هم ورانوی اوپه قهر تیریږی.

سیند دهرچا ظرف اولوښتې گوری هغومره اوبه ورکوی . دمنگی خاوند اودمنگوټی خاوند ته برابره برخه نه ورکوی .

سیند قوت لری اوپه قوت روان دی .

که سیند کلي اوکورونه وران نکړی شی آبادولی یی هم نشی .

په سیند کی باید دواړه قوتونه موجود وی .

دسیند اولښتی فرق همدغه دی

دقوت استعمال قوت غواړی سیند په زار یوچاته څه نه ورکوی ، په کار یی ورکوی سیند دهرچاکارته گوری اوهغسی کوی .

لویو ویالوته ډیری اوبه ورکوی ، وړو ته لیږی.

خام بندونه ورانوی اوپاخه نه ورانوی .

هو ! سیند بی شعوره نه دی دخام کار اوپوخ کار فرق کولی شی .

درېیمه برخه:

دجهاد فلسفه

مولانا عبدالمجید

اساسی نقطه داده چی دمسلمان په صفت دیو مسلمان هرکار باید دخدای (ج) دخوښی لپاره وی، ځکه پرموږباندی د الله (ج) داحکامو منل فرض دي اودهغه (ج) داستاذی پیروی کول. اودانسان ژوند دهمدغه مطلب (عبادت لپاره) پیداشوی اوهمدغه دخدای (ج) اودهغه (ج) دپیغمبر (ص) فرمان منل پخپل ذات کی ددنیا او اخرت دکامیابی رازونه لری.

اوهرڅوك چی دالله تعالی دراستول شوی شریعت اوقانون په غیر نورو شیانو اوکارونو کی خیرخواهی، خوشحالی اودبری لارلټوی اودرواغجن سیاست تاکتیك، ستراتیژی ... نومونه وربانډی ږدی اوځان هدف ته رسول غواړی دی وګړو ته یواځی داچی حقیقی بری ته درسیدلو لار خطا کړی بلکه دقوی ایمان او

رسا اسلامی عقیدی څښتنان ثابتیدلای نه شی دوی څخه تقلید اوحکم منل دنورو مسلمانانو لپاره لا زم نه دی ځکه نبی کریم (ص) فرمایی ترجمه: دمخلوق یا بندګانو اطاعت اوفرمانبرداری نشته چی دخدای (ج) څخه نافرمانی وی الحدیث

یعنی کوم کار چی دخدای تعالی په نزد ممنوع وی په هغی کار کی دبندګانو حکم منل روانه دی اګر که امر، قوماندان ... حتی مور اوپلاروی.

ځکه هرڅوك چی داسلام دمقدس دین مدعی او معتقد وی بیاهم دانسانانو په هغه کړنلاره کی کامیابی اونیکمرغی لټوی کومه چی دخدای (ج) اومحمد (ص) دپیروی څخه برخه نلری ددانوع اشخاصو عقیده اوایمانی جذبه کمزوری نه بلکه داسلام څخه دوتلو خطره لری ځکه حقیقی موثر په اشیاوو اوموجوداتو کی باری تعالی دی اوسبب، اله، وسیله، شرط، علت ... داهرڅه پخپل خپل ځای دیو محدود اومشروط انداز سره سم حیثیت لری.

څرنګه چی جهاد دیوستر اسلامی حکم نوم دی اودعملی کولو حکم یی پروردګار صادر کړیدی ددیرو خصوصیاتو، برکتونو او رازونو څخه مالامال دی پخپل ضمن کی هغه څه دځان سره لری چی واقعاً وربانډی دحق اوباطل ترمنځ انفکاك راځی اصیل خدای (ج) پرست انسانان وربانډی ددرواغجنو مکاروا وپلمه ګرو انسانانو دظلم اوتیری دغاصبواو حق دښمنو دپنجو څخه نجات مومی اویوی داسی روښانه لیاری ته وربانډی نیغیږی چی په دنیا کی یی داسلامی انسانی شرافت څخه دك ژوندون په پاکه لمن کی نغښتی اودمرګ څخه وروسته راتلونکو صحنو لپاره ښکلی پیش منظر لری.

اوهمدغه جهاد دی چی حقیقی انقلابونه یی پخپله پاکیزه لمنه کی راتاو کړی دي انقلاب یوعربی لفظ دی چی دیو شی دچپه کولو او اړولو معنی لری.

جهاد دی چی په بیخی اوجوته توګه یو غیر اسلامی نظام ړنګوی اوپرځای یی مقدس اسلامی نظام جوړوی.

اویو اجتماعی انقلاب ته هغه وخت ټولنیز انقلاب ویلی شی چی په کامله توګه یعنی دهرڅه سره ټولنه په بل مخ واړوی، که چیری مکمل پرکنی تحول په اجتماع اواجتماعی چارو کی رانه ولی بیاهم ورته انقلاب ویل هیڅ معنی نلری ځکه وینا او مقصد په خارج کی مصداق نلری.

جهاد هغه اصلاحی ټولنساز عمل دی چی حق ته دتحقق ورکولو اوباطل له منځه وړلو دنده یی خط مشی ده په مظلومانو باندی دظلمونوخاتمه راولی ظالم دظلم څخه راستنوی انسان دانسانی وقار،دبدبی اوسلوك لور پوړ ته خیژوی انسان خوپریږده. بلکه حیوانات اونور ساکښان هم ظلم او زیاتی ته غاړه نه ایږدی.

جریر (رض) دعبدالله زوی څخه روایت دی الله تعالی په هغه چاباندی رحم نکوی چی هغه په نورو خلکو باندی رحم نکوی بخاری، مسلم

بل حدیث شریف کی محمد مصطفی (ص) ارشاد فرمایی دځمکی په مخلوق باندی رحم وکړی په تاسوباندی به داسمان خاوند رحم وکړی الحدیث ابوداود، ترمذی

داسی سلګونه زرګونه ګرامی ارشادات وجود لری کوم چی دجهاداوټولنیز ژوند دڅرنګوالی سره اړوند دی اودجهاد طرز العمل تلنلاره اواهداف یی په څرګند ډول ټاکلی جهاد داجتماعی، عقیدوی، دنیوی اواخروی وجوهاتو له مخی یوه پراخه موضوع ده جهاد پخپل عین جریان او مسیر کی دلمانځه زکات روژی، حج، اوداسی نورو فرایضو سره رابطه لری اوداهره یوه موضوع په هر اړخیز ډول کماحق څیړل لوی بحثونه نه بلکه کتابونه کښل غواړی اما الحمد لله دجهاد موضوع دټولو محتویاتو سره په جوته توګه داسلام دین کی څیړل شوی موجوده ده اوزیات شمیر کتابونه وربانډی لیکل شوی خصوصاً په عربی ژبه کی پدی اړه هیڅ ابهام نه دی پاتی.

داسلام په مقدس دین کی دهرعمل سره درسا ښکلی اوسپیڅلی نیت ضرورت دی دنیت مرکز او مصدر دانسان زړه دی.

دجهاد په درشل کی دنیت په اړه یوه واضحه پیښه هغه ده کومه چی دجهاد په بهیر کی حضرت علی کرم الله وجهه په عمل کی ثابته کړیده یوځل حضرت علی (رض) دیوکافر سره دجهاد په مقابله کی اخته شو حضرت علی کرم الله وجهه غالب شو اوکافریی پرمځکه باندی راپری ایسته په سینه وروختـه اودده د وژلو لپاره یی ځان اماده کړ کافر دځان سره وویل چی حضرت علی(رض) به اوس درسره څه ورمعامله کوی دځان سره یی فکر کاوه چی دمرګ څخه خو نجات نشی موندلی مګر په ډیره بیرحمی به یی ووژنی اودمرګ په دوران کی به یی ډیر تکلیف کړی.

ددی مقصد لپاره چی حضرت علی (رض) په دی وادار کړی چی دده د مرګ عمل په تندی پای ته ورسوی کافر دخپل دی هدف ته درسیدو پخاطر دحضرت علی (رض) پرمخ مبارك توکانی ورتف کړی ترڅو حضرت علی (رض) په غصه شی اما حضرت علی (رض) دده ددی توهین څخه وروسته دکافر دسینی څخه ګونډه پورته کړه کافر پاڅیده دتعجب څخه ډکه څیره یی دحضرت علی (رض) لورته راستنه کړه وبی ویل ولی دی پریښودم؟

وروسته له دی چی ته پرما برشوی بیاهم ماستاسو سپکاوی اوبی عزتی ته اقدام وکړ اوغوښتل می چی په دی ډول زما په مرګ باندی تلوار وکړی که چیری زه په تاباندی برشوی وای نومابه ته په هیڅ ډول پریښی نه وای اوپه دردناك اوویرجن مرګ به می محکوم کړی وی. بیاهم تاسو زما د فکر تصور اوعمل په خلاف دریغ غوره کړ ستاسو ددی اخلاقی تعامل اساسی علت څه شی کیدای شی چی تاسو یی ددانوع متحیر کوونکی عمل لپاره تحریك کړی.

حضرت علی کرم الله وجهه وفرمایل: مادیو مسلمان په صفت دخدای تعالی (ج) دخوښی لپاره وژلی اما کله چی تا زما مخ ته لاړی تف کړی نوماسره داسوال پیداشو چی داعلی کلمة الله اودالله (ج) دخوښی سره زما دنفسی غوښتنی شبهه یو ځای نشی دخپل نفس داحتمالی خواهش په سبب می پریښودلی کله چی کافر ته داسلام ددین دیو معتقد سوچه والی، اخلاص اوددین حقانیت ثابت شو نوسمدلاسه په مقدس دین مشرف شو.

که چیری یو مسلمان انسان دخدای (ج) دخوښی لپاره دټولی نړی کفار قتل کړی ددي څخه داهیره غوره ده چی یو انسان داسلام دین ته راجذب کړی ثابته شوه چی دمسلمان اصلی کار دنړی اونړیوالو اصلاح اواباد ول دي نه ورانول او منهدمول.

کله چی قتل، وژنه او ورانونه رواکیږی مخکی به ترینه حتماً هغه شرطونه موجود شوی وی دکومو شرطونو په اساس چی جهاد وژنه ورانونه ... رواکیږی اوهغه هم دقران اوشریعت په رڼا کی نه دانسانانو دخواهشاتو، سیاستونو، بیځایه او ناروا مقصدونو، پلمو، دسیسو ... په لاربښوونه.

دشپونکي مرګ...

پټه اوبله‌یی ښکاره کړه ښې پښه یی یوی ډبری ته تمبه کړه اودمچو غندی یو پړی پرېښود دګزار سره سم یی دیوه روسی عسکر په سر سری وینی راماتی کړی ۳۰ . ٤٠ ګوتی دماشینو په ماشو راټینګی شوی یوځل ګراری جوړ شو دا هر څه په دوه یادری دقیقو کی وشول شپونکی غازی دخپلو میږو سره یوځای په سرو وینو کی ډوب شو موږ سمدستی له شانه وریسی راروان شو په کوږو کلو کی ماهوی جوړ شو خوك دبامو سروته وختل اوڅوك بیرون راووتل مجاهدینو پخپلو غاړه کیو اوټوپکو ګوتی ووهلی اودهری خوانه پری راتاو شول دوی چی زموږ پلو رامخه کړه نوموږ هم ځانونه یوه خوا اوبله خوا وغورځول اودټوپکودخولونه مو دمرمیو باران جوړ شو.له هری خوانه سره مردکی بادیدل دشپونکی مرګ ورته بلا شو په یوه شیبه کی په سپین میدان حصار شوی سره لیوان پخپلو وینو کی ورغښتل ټانکوته موچی وکتل له شانه وریسی خره دوړه خته!

شپونکی مو په څلور نفرو راپورته کړ دکلو دخوا نه رامنډی شوی هله لکه چی میروس غریب شهید شو هرڅوك پری راغوړیدل موږ یی په وینو ککړه خولی مچوغنده اوشپیلی راپورته کړه همغی زړی ابی په ډیره تندی رامنډی وهلی مچوغنده شپیلی اوخولی یی په بیړه رانه واخیستل په سترګو یی کیښودل اودټیکری په پلو کی یی واچول دخپل کمکی اودخدای پاك په خدایی کی دیو ځوی پلو چی یی وکتل نود ستنی دسوری هومره روغ ځای هم پکی نه وُ پاتی

له هر سوری نه یی وینی راخوټیدی زړه ابی پری وروغوړیده په دواړه مخه یی ښکل کړ؛ په کومه ګناه بچیه: په کومه ګناه چاڼ چاڼ اوغلبیل غلبیل شوی له تانه یی څه غوښتل دوی هم په خدایکه ښه ورځ وویني شپونکیه بچیه مرګ دی ورته بلا شو مرګ دی ورته بلاشو او بیا په هره ژبه همدا خبره وه چی دشپونکی مرګ ورته بلا شو.

په نیول شوو ځمکو کی دیهودو داستوګنی لپاره د وړیا ځمکو ورکول پیل شول

اسرائیلو دیوه منظم پروګرام له مخی دیهودیانو داباداولو لپاره په نیول شویو ځمکو کی دوړیا ځمکی ورکولو کار پیل کړی دی.

دتاوار ورځپانی دخبرله مخی ویل شوی چی دولت دڅو میاشتو راهیسی دیهودو داباداولو لپاره په نیول شویو ځایو کی دځمکو په ورکولو لاس پوری کړیدی داسرائیلو ددفاع وزارت لخوا دنوموړی ورځپانی ددغی خبر تصدیق شویدی خودایې ندی ویلی چی تراوسه پوری څومره ځمکی ویشلی شوی دی بلی خواته اسرائیلی ویندوی زیاته کړیده چی داپروګرام به صرف دنیول شویو مغربی غاړو اودغزه دسیمو پوری تړلی نه وی بلکه پدی کی به دګلیلی اودنجف دصحرا ځمکی هم شاملی وی ویل شوی چی اسرائیلو دمغربی غاړو تقریباً ۹ زره هکتاره ځمکی ضبط کړیدی چی دغه سیمه په ټول ۱۹۹۰ کال کی دنیول شویو سیموڅخه ٥ چنده زیاته ده.

ولسوالی های «رستاق» ودشت قلعه» در تخار فتح گردید

به اساس گذارش مخابروی قوماندانی شورای نظار جمیعت اسلامی افغانستان گفته شده که ولسوالی های «خواجه غار ورستاق» آخرین پایگاه های رژیم مزدور کابل درتخار بدست پرتوان مجاهدین مومن مافتح گردید.

راپور رسیده حاکیست که مجاهدین شورای نظار به همکاری ثایر مجاهدین عملیات تهاجمی خویش را بر این مراکز دشمن بتاریخ ۳۱ سرطان اغاز نمودند که بلاخره روز ۳ اسد ولسوالی رستاق همرا، باغوند (٥٤٤) ملیشه محلی، غند(٥٤٩) ملیشه محلی، غند (۲٥۱) مربوط ملیشه های «وسا» «مایویستان» کندك ٦ دیساند کندك سوم مربوط ملیشه محلی، ویك کندك امنیت دولتی «خاد» باداشتن (۱۲۰۰) تن مسلح به همکاری معاون عزیز الله «معاون غند ٥٤٤ ملیشه» فتح گردید،

راپور مذکور می افزاید که به همین ترتیب تپه ای خانم همراه باغند (٥۱۸) مربوط ملیشه معروف وکیل صدیق، غند (٥٤۳) ملیشه، یك کندك څارندوی، تعدادی ازافراد فرقه فتح شده (٥٥) خواجه غار هم بعد از جنگ های شدید روز ٤ اسد بکلی فتح گردید.

در گذارش شورای نظار گفته شده که مجاهدین درجریان این دوفتح بزرگ مقداری بی شماری از اسلحه ثقیله وخفیفه را به غنیمت گرفته اند که شامل تانك، زره پوش دستگاهای مختلف النوع، هاوان توپ های مختلف النوع، مقداری بی شماری از ماشیندار های ثقیل وخفیف، می گردد.

همچانان دو دیپوی مهمات مختلف النوع ویك دیپوی مواد خوراکی نیز به غنیمت گرفته شد.

په افغانستان کې دکې ، جي ، بي ورانوونکي فعالیتونه

داکسا، کام ، خاد، واد - تشکیلات ، فعالیتونه اوجنایات

دروسانو له نظامي مداخلي څخه ترنن پورې (۱۳۵۸- ۱۳۶۹هـ ش)

اوولسمه برخه :

کله چې روسي نظامي قواوې د ۱۳۵۸ ه ش کال دجدي په شپږمه نیته دکابل په ښار کې مسلطي شوې نوورسره سم په افغانستان کې د«کی جی ، بی » رسمي کارکوونکو شمیر نورهم په زیاتیدو شو. نور نونه دروسانوپه سفارت کې ځای کیدل اونه دمزدور رژیم په مؤسسو کې نویې په دارلامان کې دشورا په نوم تعمیر شمال خواته په یوه لوی بلډنګ کې ځای په ځای شول خومهم پرسونل یې په سفارت ، زیومکرویانواو په کابل کې دروسانو دنظامي قواؤ دقوماندې مرکز کې قراردرلود.

روسان دسالنګ څخه په راتیریدوسره ګرځیدل په کابل کې خو په خیالونو کې به یې ځانونه دهند بحر په شمالي سواحلوکې احساسول.

د «خاد» اوسنی «واد» روسی مشاورین چې دفوق العاده قوماندانانو حیثیت لري ټول د «کی جی بی » رسمی کارمندان دي . دوی به په اکثرو خصوصي مجلسونو کې د «خاد» کارکوونکو ته په ډیر مکر حکیمانه څیره او بزرګوار انه فیګور په نیولو سره ویل چه یو وخت به ستاسو هم په پاکستان کې دموږ په شان مشاورین یاست خو چې څومره وخت تیریده او دمجاهدینو له غوڅو سره مخامخ کیدل هغه هوا چه کومې پرسولې وو ورویه ورولږ لاسه ورکړه او اوس نو مسله دې ته ورسیده چه پخوانی روسي کمونستي خونړی امپراطوری څنګه وساتلی شي .

«کی جی بی » په افغانستان کی دپټوپولیسو (خاد) دستګاه په جوړولو زوروا چاوه او دکابل رژیم ټول کورني او بهرني کړه وړه یې ددغې خطرناکې او دبی ګناه خلکو وژونکي دستګاه له لارې په خپل لاس کې ونیول.

ددغی دستګاه مصارف دکابل مزدور رژیم دټولې بودجې په نسبت زیات دي او دجاسوسی چارو پیسې د په اصطلاح مرکزی بانک (دافغانستان بانک) له لارې نه انتشارېږي بلکې «کی جی بی» هغه راساً د «واد » له لارې په اجنټوري فعالیتونو کې په مصرف رسوي .

همدا اوس دکابل رژیم هیڅ یوارګان هم په دې باره کې معلومات نلري چه په څومره کمیت سره بانکنوټونه (افغانی) نشرته سپارل شوي دي نودغې د « کی جی بی » دشیطانی او ورانی ځانګی (واد) تشکیلاتو او چاروته اشاره کړل به دموږ سره د « کی جی بی » دخطرناکو او استعماري فعالیتونو څخه دخبرتیاپه هکله کمك وکړي .

د «واد» تشکیل او چارې :

۱- لومړی ریاست :- دغه ریاست مختلف مدیریتونه ، آمریتونه اوځانګې لري برسیره پردې ددغه ریاست په تشکیل کې یې یوه اوپراتیفي کندك ته هم ځای ورکړی دی دغه ریاست دکابل ولایت اړونده اجنټوري چارې سرته رسوي اودضرورت په وخت کې دمجاهدینو کوچنیو ګروپونو سره چې دکابل مزدوررژیم امنیتي ساحې ته یې دخول کړی وي وسله وال برخورد [redacted] هم کوي.

۲- دوهم ریاست :- دغه ریاست دکابل په ښار اودهغو ولایتونو په مرکزونو کې چې دمزدور رژیم ترتسلط لاندې دي دباندنیو هیوادودسفارتونو قونسلګریو اوپه عموم کی دخارجیانو دجاسوسی ضد فعالیتونو اودهغوی دامنیت اودوی په داخل کې داجنټوری دندې سرته رسوي (دسفارتونو اوقونسلګریو پهره داران چې دپولیسو یعني څارندوی دریشی یې په تن دي دواد ددوهم ریاست رسمی کارکوونکي دي).

په هغو هیوادونو کی چی دکابل رژیم سفارت فعال دی دسفیر دوهم سکرتر د«واد » رسمي کارکوونکي اونوموړی بست مستقیماً په وزارت امنیت دولتی (واد) پورې اړه لري.ددغو سفارتونو کارکوونکي دسفیرانو څخه نیولي بیاتر پیاده ګانو پورې ظاهراً دبهرنیو چارو په وزارت پورې تړلی دي خوپه واقعیت کې اکثریت دواد رسمی کارکوونکي دي اوسفارتونو اوقونسلګریو ټول کارکوونکي دواد سره مستقیمه همکاري لري اوپه بهرنیو هیوادونو کې دمزدور رژیم هیڅ کارکوونکی دواد له موافقې څخه پرته کارنشی کولی خودواد دجاسوسی ټول فعالیتونه دکی ، جی ، بی داهدافو دسرته رسولو په خاطر صورت نیسي اودروسانو په مستقیم دستورسره په نښه شوي چارې تراجرا لاندې نیسي کی ، جی ، بی په بهرنیو هیوادونو کې برسیره په خپلو سفارتونو اوقونسلګریو دپولند ، چکوسلواکیا ، هنګری ، بلغاریا ، رومانیا (دالمان شرقي برخه چې پخوا ددموکراتیك المان په نوم یادیده اوهمدارنګه اوس هلته روسي نظامي قواوې موجودې دي ، داستخباراتو اساسي کړه وړه د کی ، جی ، بی له لارې رهبري کیږي اوترڅو پورې چې دپخوانی دموکراتیك المان داستخباراتو دستګاه کومه چې دکی ، جی ، بی په لاس جوړه شوی له بیخه ورانه نشی ترهغو پورې یې دکی ، جی ، بی دیوی ځانګی په مثابه پیژندلی شو) ،

ویتنام ، لاوس ، کامبودیا ، حبشې اوانګولا دسفارتونو له لارې خپل ناولي اواستعماري اهداف پرمخ بیایي ، همدارنګه دهغو هیوادونو په سفارتونو کې چې له روسانو سره نسبتاً زیاتې سیاسي ، اقتصادي اوکلتوري اړیکې لرې دتوجو ورنفوذ لري .

۳-دریم ریاست :- دغه ریاست چی دامنیت ریاست په نوم هم یادیږي دواد په اړونده ریاستونو اوځانګو کې داجنټوری چارې سرته رسوي دغه ریاست دواد رسمي کارمندانو اواجیرانو اوعسکرو خصوصیات اړیکی اوسیاسي میلان تثبیتوي اوپه واد کې درژیم ضد اشخاصو پیژندل اوپه دغه دستګاه کې دمجاهدینو له نفوذ څخه دجلوګیری چارې ترغور اواجرالاندې نیسي .

ددغه ریاست کارکوونکي دواد اړونده مامورینو ته دمکافاتو اومجازاتو په ورکولو کی رول لري .

٤ - څلورم ریاست چی درژیم داقتصادی مؤسسوسره سروکار لري په کابل اودرژیم تر تسلط لاندې ښارګوټو په صنعتي کرني ، تجارتي ، بانکونو ، هوايي ډګرونو اونورو اقتصادي موسسو کې داجنټوری چارې په مخ بیايي په دغو موسسو کې درژیم ضد سیاسي ، تخریبي ، سبوتاژ ، شانتاژ ، ترور اودمزدور رژیم نورو ضد کړو وړو دکشف خنثا اوله منځه وړلو دندې سرته رسوي .

دڅلورم ریاست په ګډون دواد ټول کارکوونکي دذیصلاح مقامونو په دستور درژیم اودروسانو په ګټه تبلیغات هم ترسره کوي .

٥ - پنځم عمومی ریاست :- دغه ریاست چی پخپل تشکیل کې دری ریاستونه لري درژیم ضد وسله والو قوتو کې داجنټوری فعالیتونه ترسره کوي دغه ریاستونه چې په مختلفو مدیریتونو اوځانګو ویشل شوي دي په داخل اودسرحد څخه دباندې خصوصاً پاکستان اوایران کې تروریستي ، تخریبي او اجنټوري کړه وړه

(بسم الله الرحمن الرحیم)

(ان الله یحب الذین یقاتلون في سبیله صفاکانهم بنیان مرصوص)

اعلامیه مشترک شوراي علماوشوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان

درین اواخر که جهاد ملت مسلمان ومجاهد افغانستان وارد مرحله حساس ازجهات سیاسي ونظامي خود گردیده است ، یك سلسله تلاشهاي اساسي گسترده توسط محافل بین المللي مبني برحل سیاسي قضیه افغانستان براه انداخته شد وسیعاً درمطبوعات واذهان عامه انعکاس یافته است.

این مساعي عمده بوسیله محافل غیر افغاني ویاهم افغاني صورت میگیرد که درصحنه جهاد ملت مسلمان افغانستان حضور مستقیم ونقش فعالي نداشته اند .

محافل مذکور ظاهراً به این دلیل به خود جرئت بخشیده تاوارد صحنه سیاسي قضیه افغانستان شوند که رهبران تنظیم هاي جهادي موفق به تشکیل یك زعامت موحد سیاسي که مورد تائید اکثریت مردم افغانستان بوده باشد نگردیده اند .

لازمه طبیعي این تلاشها تعیین سرنوشت اینده افغانستان بوسیله اجانب بوده که مسلماً نمیتوان انتظار کشید تاأین مساعي به خیر وفلاح ملت مجاهد افغانستان وتحقق ارمانهاي شهداي عزیز این کشور منتج خواهد شد .

بدون شك فقد ان زعامت واحد سیاسي وعدم موجودیت اتحاد وهمبستگي صادقانه وعملي میان تنظیم هانه تنها زمینه را براي مداخلات بیروني مساعد نموده ، بلکه اسباب یاس وناامیدي مردم مسلمان ومجاهد افغانستان نیز فراهم ساخته است .

وضعیت ناگوار کنوني که تداوم وپیروزي این جهاد بزرگ راجداً مورد سوال قرار داده است ، به هیچ صورت براي ملت شهید پرور افغانستان ، قابل تائید وتحمل نبوده لزوما ایجاب مي نماید تابه اسلوب حکیمانه راه هاي مناسب ومؤثر بیرون رفت از وضعیت فعلي راعمیقاً جستجو کرد.

شوراي علما وشوراي سرتاسري قوماندانان جهادي افغانستان بادرنظر داشت حساسیت مرحله کنوني جهاد ومطابق اساطیر والاي دین مقدس اسلام وحدت ویکپارچگي مخلصانه میان تنظیم هاي جهادي وبه خصوص رهبران محترم تنظیم هارایگانه راه براي نجات کشور وپیروزي جهاد دانسته وبدین وسیله ازهمه رهبران عالیقدر شخصیت هاي تصمیم گیرندهٔ درتنظیم هاي جهادي اعم از تشیع وتسنن احترامانه تقاضا بعمل مي اورند ، تابه منظور کسب رضاي خداي متعال قطع مداخلات بیروني اعطاي حق تعیین سرنوشت افغانها براي خود افغانها سقوط رژیم مزدور کابل وسرانجام پیروزي کامل جهاد واقامه حکومت اسلامي درکشور عزیز افغانستان هرچه سریعتر باقلب هاي اگنده ازاخلاص وصمیمیت باایجاد فضاي تفاهم وتعاون متقابل ، باهم متحد گردیده ویك زعامت سیاسي موحد راکه ممثل اراده وارمانهاي ملت مجاهد افغانستان ومظهر وحدت ویکپارچگي همه نیروهاي جهادي واسلام وملیت هاي مختلف کشور بوده باشد . تشکیل نموده وراه رابراي رسیدن به منزل مقصود ، که همانا پیروزي کامل جهاد واستقرار حکومت عدل الهي درافغانستان است هموار سازند .

وما ذلك علی الله العزیز

نیرنگ دیگر ...

رول و صحنه دیگر به رقص بیاورد.

سلطان علی که یك کمونست واجینت شناخته شده « کی جی بی » میباشد با صحنه سازی سیاسی گویا از حزب وطن استعفا دادتابرای نفوذ درمیان مجاهدین شیعه مقیم ایران بهانه ووسیله داشته باشد واگر این هدف را برآورده ساخته نتوانست اقدام دومی آن جمع نمودن آنعده از نارضیان هزاره ها به دور خویش خواهد بو که قبلاً اعضای حزب وطن بودگویا اینکه فعلاً اعضای حزب وطن هستند . در پهلوی این ها نفوذ کشتمند در حلقه ها ودسته ها ی از مردم هزاره یی میباشد که نه از جمله همکاران سرسخت تنظیم های جهادی شیعه مذهب مقیم ایران هستند ونه از حزب مزدور وطن و رژیم دست نشانده کابل دل خوش دارند . هویدا ست که این توطیه در رابطه به تنظیم های شیعه مذهب مقیم ایران باموفقیت نخواهد انجامید اما هرگاه هزاره های مسلمان وباشهامت ایکه تاهنوز نظر به عوامل مختلف از تنظیم های اسلامی وجهادی دور مانده اند به توطیه ها ونیرنگ های روس وگماشتگان آن چون سلطان علی کشتمند توجه جدی نه نمایند به شکل از اشکال شکار دسا یس وتوطیه ها استعمار کمونستی وخونخوار روس خواهند شد . پس همه مردم مسلمان افغانستان از هر ملت قوم وقبیله ی که هستند به هر زبانیکه تکلم می کنند ودر هر محلی از افغانستان اسلامی وباستانی ایکه زندگی می کنند باید بنام الله (ج) واحد وبنام اسلام ووطن دوست داشتنی مان افغانستان دست برادری باهم داده علیه استعمار وتوطیئه های کمونستی روس ومزدوران ان تازمانی به جهاد ادامه دهیم تا این مرزو بوم اسلام ازلوث این وحشیان قرن بیست پاك وبرفراز قله های شامخ وکوه های سر به فلك کشیده این خاك شیرمرادان بیرق اسلامی رابه اهتزاز درآید.

دغزني ولايت دخاد ودانۍ ويجاړه او دخاد رئيس ووژل شو

غزني ، ميډيا :

دغزني له ولايت نه رپوټ ورکړل شوی چی مجاهدينو دسرطان په ۲۹مه نيټه دغزني په مرکز دسنايی ليسی پر امنيتی پوستو اوقول اردو باندی ددرندو وسلو بريد وکړی چی په نتيجه کی درژيم شپږ تنه عسکراومليشه مړه يو شمير ټپيان او ۸ تنه ګلم جمع مليشه يی دوسلو سره ژوندی نيولی دی.

همدارنګه مجاهدينو دسرطان په ۲۷ مه نيټه ددرندو وسلو څخه په استفادی سره دغزني ولايت پرهوايی ډګريو لړ عمليات ترسره کړل چی يوه نظامی پوسته اودخاد ددفتر ودانۍ ويجاړه ۷ تنه عسکراومليشه مړه اودښمن يو ميل هاوان له منځه تللی دی .

دنويو خبرونو له مخی ويل شوی چی دسرطان په ۳۱ مه اوداسد په لومړی نيټه دغزني دښار پر امنيتی پوستو ، هوايی ډګراوپه ښار کی دخاد ددفترپر ودانۍ ددرندو وسلو په بريد سره دخاد په دفتر کی دخاد رئيس په شمول ۲۵ تنه عسکراومليشه مړه ،اويو شميريی ټپيان کړی دی.

رپوټ زياتوی په همدی نيټه دمجاهدينو دېرو په نتيجه کی دغزني ولايت په هوايی ډګر کی يوه پوسته درژيم دعسکرو يو شمير ځالی اودصاحب منصبانو خو استوګنځی له منځه وړل شوی اويو شمير عسکراومليشه پکی وژل شويدی .

خبروايی دکابل رژيم هوايی قواو دغچ اخيستلو پخاطر دهفت اسياب دسيمی پرکليو اودهوايی ډګرپه شاوخوا دمجاهدينو پرسنګرونو سختی بمباری وکړی چی دهغی په اثر دسيمی خلکو ته درانه مالی اوځانی زيانونه واوړيدل همدارنګه دغزني له ولايت نه ديو بل خبرله مخی مجاهدينو داسد په دوهمه نيټه دغزني دښارپر امنيتی پوستو بريد وکړ چی دهغی په اثر يوه عراده ټانك اويوه دوسلو ډيپو سوزيدلی اوځلور تنه عسکر پکی وژل شوی دی .

په يوګوسلاويا کې . . .

يوګوسلاويا کی داسلامی تعليماتو دښوونی دروازه ورو ورو مخ پر خلاصيدوشوه په بوسنه ، هرسك ، کوسوفو کی اسلامی مدرسی پرانستل شوی جوماتونو يوځل بيا دمسلمانانو په ژوندانه کی اهميت وموند .

داچی په يوګوسلاوياکی داسلام اومسلمانانو اوسنی اوفعلی وضعه څه ډول ده ويلای شو چی ددی سيمی دخلکو حالت ورو په ورو په پخوانی ډول ورګرځيدونکی ده ، دلوی خدای په مرسته اومخلصو مسلمانولارښوونکوپه برکت به داسلام شان اوشوکت يوځل بيالوړيږی داسلام بيرغ به لاپسی رپانده کيږی ترڅوتوله نړی پدی وپوهيږی چی ددی هيواد اوسيدونکی په حقه اوريښتنی مسلمانان دي .

حقيقت دادی چی يوګوسلاويا مسلمانان ديولړ مشکلاتو اوستونزوسره لاس په ګريوان دی اوداد اسلامی نړی فرض بلل کيږی چی ددينی معهدونو په زياتوالی اوداسلامی فاکولتو اواسلامی مرکزونو په جوړولو کی ددی سيمی دمسلمانانو سره بشپړ همکاری اومرسته وکړی ترڅو ددوی اړيکی نوړو اسلامی هيوادونو سره نوره هم مضبوطی شی فعلاً په يوګوسلاويا کی (۲۵۰۰) جوماتونه وجود لری همداراز دسرايفوپه ښارکی داسلامی علومو يوه فاکولته موجوده ده ، په بوسنه او هرسك کی دوه ثانوی مدرسی پرانستل شوی دی دکوسوفو په ښارکی يوه مدرسه اود ماکلونيا په مرکز کی ثانوی مدرسه وجود لری .

اسلامی شخصيتونه يوه دوه مياشتنی مجله دګلاسنيك په نوم خپريږی اويوه بله جريده داسلامی نهضت په نوم همدارازد(اسلامسکاميساد) په نوم بله مجله هم خپريږی ، همداراز نوری مجلی لکه (زمزم) انالی) بيلتين) صوت الاسلام ، المراة اوالعالم ، معرفة الاسلام ، الادب الاسلامی ، النور التقويم ، او الهلال په نوم مجلی په بيلابيلو ژبو کی خپريږی .

په بوستان ، اوهرسك کی مسلمانان اکثريت تشکيلوی چيرته چی مسلمانانو

داسلامی جمهوری حزب په نوم دګوند دجوړولو اجازت ورکړل شوی ده اودانورو ګوندونو په نسبت لوی ګوند بلل کيږی ددی څرګند مثال په وروستيو انتخاباتو کی دمسلمانانو ستره کاميابی اودبوسنی اوهرسك دجمهوريتونو دصدارت چوکی دحزب مشر (علی عزت بغوفيتش) له خواکتړل شويدی .

دپکتيا په ولايت کی درژيم يوه پوسته فتح ۲۶ تنه عسکراومليشه وژل .

دقومانداناتو شورا سياسی دفتر دپکتيا له ولايت نه دمجاهدينو دځينو قومانداناتو درادیويی پيغامونو په حواله رپوټ ورکړی چی مجاهدينو دسرطان په ۲۸ مه نيټه دکوټل تيره پرپوستو ددرندو وسلو څخه په استفادی سره بريد وکړ چی دهغی په نتيجه کی دکابل رژيم دقواو يوه پوسته فتح ۱۰ تنه عسکراومليشه مړه يو شمير ټپيان اوشپږ تنه نور يی ژوندی نيول شويدی .

رپوټ زياتوی چی مجاهدينو پدی جګړه کی درژيم له عسکرو نه ۱٤ ميله کلاشينکوفونه اويوه اندازه مهمات ولجه کړی دی .

همدارنګه مجاهدينو دجولای په ۱۸مه نيټه په نومړی سيمه کی درژيم پرقواو يو لړ عمليات ترسره کړل ، چی دهغی په اثر ۱٦ تنه عسکراومليشه وژل شوی اويو شمير نور يی ټپيان اوهم درژيم قواو ته درانده مالی تاوانونه اوړيدلی دی .

درپوټ مطابق پدی جګړه کی مجاهدينو ته څه ځانی تلفات ندی رسيدلی .

په هرات کی ددښمن نظامی مرکزونه ونړيل شول

هرات ، ميډيا :

دهرات ولايت په بيلابيلو برخو کی درژيم پر مرکزونو اوقواو باندی دمجاهدينو دبرياليو بريدونو په ترڅ کی درژيم څه دپاسه يوځلويښت تنه افراد هلاك اوځلور ټانکونه له منځه وړل شوی دی .

ميډيا دقوماندان اسمعيل خان دراډيويی پيغام په حواله رپوټ ورکوی چی مجاهدينودسرطان په ۲۷مه نيټه په پل بازارك کی درژيم پر مرکزونو ددرنو وسلو بېزی وکړی چی په نتيجه کی درژيم يو ټانك اوڅو نقليه وسايط سره له وسلو له منځه تللی دی .

اژانس زياتوی چی مجاهدينو دجولای په مياشت کی دزنده جان ولسوالی مربوط دقلعه مليکی په بيلا بيلو سيمو کی درژيم پر اهدافو دعملياتو په ترڅ کی لس تنه مليشا مړه اويو شمير نور يی ټپيان کړيدی .

همدارنګه دزنده جان ولسوالی په لويديځ کی درژيم دقرارګاه پوځی تاسيساتو هم مجاهدينو بريدوکړ چی دهغه له امله يو ټانك وسوځيدو اودولس تنه درژيم افراد يی وژلی اويو شمير نور يی ټپيان کړيدی .

دميډيا ديو بل خبرله مخی مجاهدينو دسرطان په ۲۵ مه نيټه دزنده جان په مربوطو سيمو کی درژيم پر اهدافود بريد په ترڅ کی دوه ټانکونه وران اويوشمير افراد يی وژلی اويا ټپيان کړيدی .

په خبرونو کی ويل شوی چی دمجاهدينو له اړخه هم محدود کسان ټپيان شويدی اودکابل رژيم پر مورچو باندی دمجاهدينو بريدونه لاهمغسی په شدت ادامه لری .

دراډيويي خپرونو ستره وظيفه ...

ځواب : دعبوري حکومت له راډيو سره داسې پيوستون چی ګنی له يوه چينل اواداری نه اداره کيږی نه لرو دهغوی اداره ځانته اوزموږ ځانته ده خو البته دپاليسی په لحاظ چی له جهاد اتحاد اواصلاح نه مطلب دی سره پيوستون لرو ځکه هدف مويو اودښمن مومعلوم دی .

پوښتنه :

په عامه توګه له اوريدونکو نه څه توقع لری ؟

ځواب : زموږ توقع له اوريدونکو څخه داده چی زموږ خپرونه دی په غور واوری که دکوم مطلب اوياپروګرام په هکله څه غوښتنه اويا سالم انتقاد لری مورته دی پدي ادرس راوليږی پاکستان پيښور يونيورستی تاون پوست بکس نمبر ۱۰۳۳ اويا شمالی وزيرستان ډاکخانه ميرانشاه دمجاهد غږ راديو . ترڅو په راتلونکی کی هغه نيمګړتيا وی ورکی شی ، اوپه خاصه توګه له دينی علماکرامو اوداسلام دباخبرو ورونو څخه زموږ ارزو داده چی ددی لپاره چی نن امی دی که ملا ، ځوان دی که زوړ ټول دمقدس جهاد په ګرمو سنګرونو کی پراته دی ددوی لپاره دابلاغ اوتبيلغ غوره لار اووسيله راډيو ده چی کولای شو دحق اواز نن له دغی لاری دخپلو وطنوالو غوږونو ته ورسوو ددی لپاره چی جهاد په لومړی قدم کی ددوی په فتوه اوقومانده پيل شوی تر وروستی پړاوه پوری لار ښوونی يی هم ترلوی پوری اړه لری ترڅو مجاهدين تربشپړ بری پوری له جهاد نه ښه اګاه اولکه څنګه چی خدای (ج) اورسول (ص) فرمايلی دی همغه شان تګ وکړی چی پدی کی زموږ کاميابی اودنيا اواخرت نيکنامی تثبيتيدلای شی په پای کی غواړم چی زموږ مومن مجاهد وطنوال دی ترهرڅه دمخه خپل صفونه منظم اويو تربله دی دوروری اوهمدردی لاسونه ورکړی څکه چی له يوه لاسه ټك نه خيژی. وما علينا الاالبلاغ واخر دعونا ان الحمد لله رب العلمين

نيرنگ ديگر . . .

لسانی ومحلی را شعله ور سازد ودربين مردم مسلمان افغانستان نفاق ، دشمنی ، وبدبينی راعميق سازد وزمينه مناسب را بخاطر پيش برد پلان های استعماری خويش بدست اورد .

درزمان قدرت تره کی وامين پشتون ها نسبت به تمام مليت ها ، اقوام وقبايل ديگر برتر شمرده می شدند واکنون نيز فرکسيون های خلقی ها به شدت چنين تضادها رادامن می زنند ، درزمان بميان امدن کارمل ، تاجك ها رانسبت به مليت های ديگر اهميت بيشتر دادند امازمانيکه روس ها جای کارمل را به نجيب سپردند اين دسايس وتوطيه ها رابيش ازپيش شدت کسب نمود وزمانيکه ازشعار های انترناسيوناليزم پرولتری کدام مفاد نصيب روس ها ومزدوران شان نه گرديد اکنون دست به تاکتيك استعماری ديگری زدند وان اينکه روس ها سليمان لايق را بنام مدافع حقوق پشتون ها ، محمود بريالی واناهيتا را ازتاجك ها ، سلطان علی کشتمند راازهزاره ها وساير اعضای حزب وطن فروش (حزب وطن) واجنتان ديگر کی جی بی رابه نام های اين وان بکار گماشتند تا از اين طريق اگر احتمالاً درانيده تغيرات بوجود می ايند از ان به نفع خويش بهره برداری نمايند . همچنان رژيم مزدور کابل به دستور باداران روسی برای فريب مردم مسلمان افغانستان به اصطلاح سستم چند حزبی رابوجود اورد اين احزاب وسازمان ها که درپهلوی حزب وطن اجازه فعاليت سياسی داده شده است عده ازان قبلاً توسط کی ، جی ، بی سازمان داده شده است وعده ديگرانها بواسطه رياست هفت «واد» ساخته وتمويل می گردد .

رژيم مزدور کابل ازتضاد ها ی مليتی لسانی ، ومحلی سواستفاده نموده دست به تشکيل مليشه های به اصطلاح قومی زده است ، درجوزجان از ترکمن ها وازبك ها در پکتيا فرقه قومی که تعداد افراد ان تشکيل يك تولی رانيز تکميل ساخته نمی تواند ،

در شاه راه سالنگ مليشه های سيدکيهان وغند های جداگانه از هزاره ها ، درهرات ازتاجك ها وساير نقاط افغانستان مليشه های رابه لرتباط قومی وملیتی ايجاد نموده است تابه اين ترتيب ازبدترين ، منفورترين وزبون ترين شيوه ها بهره برداری نموده واز سقوط فوری ، خويش رانجات دهد .

بخاطر روشن شدن هرچه بيشتر نيرنگ ها وتوطيه های کريملين به استعفای سلطان علی کشمند که چندی پيش از حزب وطن صورت گرفت اشاره اجمالی می نمايم .

سلطان علی کشتمند مربوط به مليت هزاره است . اويکی ازسابقه ترين اعضای حزب دموکراتيك خلق که اکنون بنام حزب وطن تغير نام داده است ، ميباشد . کشتمند درانشعاب سال ١٣٤٦ هـ ش ، حزب مذکور به طرف گروه پرچم رفت وعضويت کميته مرکزی پرچمی ها رانيز حاصل نمود وبعد ازوحدت مجدد خلقی ها وپرچمی ها درسال ١٣٥٦ هـ ش ، نيز عضويت کميته مرکزی راحفظ نمود .

درنتيجه کودتای نافرجام پرچمی ها که به دستور روس ها درسال ١٣٥٧ هـ ش ، عليه خلقی ها صورت گرفت همراه به يك تعداد اعضای ديگر گروه پرچم به زندان انداخته شد وروس ها خلقی ها را مجبور ساختند تاازکشتن وی خود داری ورزند . وقتيکه روس ها درشش جدی سال ١٣٥٨ هـ ش ، در افغانستان دست به مداخله مستقيم نظامی زدند به روز اول مداخله نظامی روس ها (شش جدی) اولين تانك روسی ايکه دروازه زندان پلچرخی را عبور نمود درپيشروی اتاق که در ان کشتمند محبوس بود استاد واورا باهمان تانك روسی به راديو افغانستان که در ان جارهبری حزب مزدور موقعت داشت انتقال دادند . بعد ازان وی را بحيث عضو بيروی سياسی کميته مرکزی ، رئيس پلان گذاری دولتی که حيثيت وزارت پلان راداشت وهمچنان درعين حال بحيث معاون صدراعظم مقرر گرديد . اوبعداً بحيث صدراعظم رژيم مزدور کابل انتصاب والی سال ١٣٦٩ هـ ش ، در آن پست باقی ماند کشتمند بخاطر اينکه خودرا مدافع منافع هزاره ها نشان داده باشد ومردم مسلمان هزا ره راقربان پلان های شوم کريملين ساخته باشد درسال ١٣٦٨ هـ ش، مقاله را به نشر سپرد که در ان اين مطلب که هزاره ها را به نسل مغل ها ارتباط ميدادند ، ردشده بود لاکن اين را واضح نه ساخته بود که ادعای فوق الذکر مربوط به کدام شخص ويا ازطرف کدام منبع نشر شده است وآيامطلب مذکور واقعاً در کدام نشريه تحريرشده است يااينکه ساخته وپرداخته سلطان علی است . روس ها کشتمند رادرسال ١٣٦٩ ه ش بنام مر يضی به مسکو انتقال داد تااز روسها بيشتر دروس شيطانی را بياموزد وبه تعقيب آن ازوظايف دولتی سبك دوش ساخته شد او را روسها چندی قبل همراه با پروگرام های خطر ناك جديد باردیگر بکابل آورد ند ود ستور دادند تابخاطر احراز رول اينده به حزب وطن استعفا دهد هدف از استعفای سلطان علی از حزب وطن اينست تاروس ها آنرادر

صفحه (٦)

دافغانستان دربړی دحل ...

کړی شوی خو دپاکستان دبهرنیو چارو دوزارت ماموریتو څرګنده کړیده چې ددغه کړی غونډی هدف دپاکستان - ایران او مجاهدینودیوه مشترک موقف دغوره کولو په لارکی دهلو ځلو پیلامه ګڼلی شی دیادولو وړده چې داخبری په داسی وخت کی پیل کیږی چې د افغانستان دقضیی دحل په عنوان کولو له مختلفو اړخونو او بیلابیلو قوتونو او هیوادونو له خوا د بول بول طرحو او پروګرامونو دوړاندی کولو او دهغی لپاره دزمینې مساعد ولو بازار ډیر زیات ګرم دی دابول خبری هغه وخت لاپسی ګرمی شوی چې دملګرو ملتونو سرمنشی په اصطلاح دسولی پنځه فقرایز پلان اعلان کړ.

دنباغلی کوئیار دپلان له مخی مجاهدین له هغه رژیم سره دخبروله پاره دعوت شوی چې خپله دملګرو ملتونو دمعیارونو له مخی دیوه بهرنی اوبرینو تجاوز بقایا وی ګڼلی شی او داپداسی حال کی چې پخپله دملګرو ملتونو مؤسسی داتیری څوځو واره محکوم کړی هم دی ،

سره لدی چې دملګرو ملتونو اداره او ټوله نړی لدی حقیقت څخه په بشپړه توګه خبره ده چې دافغانی ټولنی هیڅ ډله او عنصر نه غواړی د روس له لاس کینولی رژیم سره خبری وکړی او یاورسره دګډ حکومت لپاره امادګی ولری ،

له همدی ځایه وه چې داطرحه په بشپړه توګه او یوه آواز سره ټولو افغانی تنظیمونو او په جهادو مقاومت کی د شاملو اړخونو له خوا ردااوغندل شوه

له هغی وروسته هم په سیاسی او هم په نظامی برخوکی یو لړ نوی فعالیتونه ترسترګوکیږی چه پدی کی دااوس اوس دایران دبهرنیو چارو د وزیرسفر ځانګړی یادونی وړ دی داځکه چې ایرانی رسمی مقاماتو له څه مودی راپدیخوا دکابل له رژیم سره په زیاترو برخوکی روابط ټینګ کړی دکابل دلاسی کینولی رژیم مشر ته په مشهد کی دیوه سیاسی مانور داجرا کیدو زمینه سازی او په کابل کی دفرهنګی مرکز فعالول او داسی نور دکابل له مزدور رژیم سره ایرانی مقاماتو داوسنی سیاست له مخ څخه پرده پورته کړیده .

لکه مخکی موچې وویل تراوسه په پوره توګه ددغو خبرو اجندا نه ده افشاشوی خو دابول خبری دڈی غمازی ضرور کوی چې بهرنی اړخونه دخپلو ګټو په جهت کی د سیاسی سودا بازی څه بول خطرناکی لوبی راالخیستی دی او تیری لا دا چې اوس اوس له ګټو او بیلابیلو چیتلونو او اړخونو څخه دخپلو ګټو په محور څرخیدونکی فعالیتونه په لار اچول شوی چې قضیه نورهٔ دکړکیچ په لور مخ په وړاندی بیایی .

دمجاهدینو دنوماند او مدیرقوماندان الحاج مولوی جلال الدین حقانی دقضیی دحل په رابطه دروانو سیاسی مانورو او فعالیتونو په رابطه ویلی دی: ترهغې چې دکابل رژیم له منځه نه وی تللی دافغانستان دربړی سیاسی حل ناشونی کاردی او کله چې دنجیب لاس کینولی رژیم له قدرت څخه لیری شی هلته بیا ،خپله دجګړی ضرورت له منځه ځی او سیاسی مذاکر اتوته لار پرانستل شی لدی پرته هر بول خبری او سیاسی هڅی بی معنی او بی نتیجی ګڼلی شی.له همدی ځایه ده چې ویلی شو دنجیب د لاس کینولی رژیم دموجودیت په صورت کی دقضیی دحل په عنوان کولو سره روان سیاسی فعالیتونه بیله دی چې دافغان مجاهد ولس دارمانونو پر خلاف یی بیلابیل سازشونه وکړی دقضیی دواقعی حل په لاره کی یی مؤثر نشو ګڼلی.

٨٠٠ تن ازمشاورین روسی وارد ولایت جوزجان شدند

جوزجان ، میدیا :

گزارش های رسیده از ولایت جوزجان مشعر است که ٨٠٠ تن ازمشاورین تحت نام متخصص انجینر اوامثال ان که درواقع همه نظامیان روسی هستند اخیرا وارد ولایت جوزجان شده اند ، قرار گزارش مشاورین مذکور درپایگاه نظامی رژیم دران ولایت درامور نظامی باافراد رژیم همکاری مینماید .

لازم به تذکر است که قبلا نیز راپور های مشابهی ازمواصلت عده از مشاورین روسی به افغانستان بدست رسیده بود که هم اکنون دربخش های مختلف نظامی کارهای عمده ازجمله فیر راکت های سکد ، لونا ، واوراگان رابعهده دارند .

په مزارشریف کی دملیشه ؤ حکومت دی ، نه دکابل

بی بی سی رادیو ، داسد ٧مه

دبی بی سی راډیو یو خبریال چې دمزارشریف له ښار څخه تریوی لیدنی کتنی وروسته په خپل راپور کی ویلی چې دکابل رژیم له خواټاکل شوی دمزارشریف والی « میرعبدالرحمن انصاری » پدی اعتراف کړی چې دنوموړی ښار په شاوو خواکی دځای پر ځای شویو ملیشو دګړو وړو کنترول اودزورزیاتی څخه دهغوی منع کول ددوی په توان کی نشته .

دبی بی سی راډیو خبر یال وایی چې دمزار شریف دښار څخه بوازی څوکیلو متره لری ، دمسلح ملیشه ؤ دبیلا بیلو ډلو مرکزونه پراته دی چې هلته بیا دحکومت امر اوقومانده نه چلیږی .

نوموړی خبریال زیاتوی دمزار والی «انصاری » په خپله ویلی دغه ملیشی مسلح دی ،اوهر هغه څوك چې ددوی له سیمو څخه تیریږی ، دټوپك په زور تری نه پیسی اخلی اولوټوی یی .

همدارنګه دبلخ ولایت دامنیت یوه مامور نوموړی خبریال ته وویل : چې څو ورځی مخکی دغه ملیشه ؤ دمزار شریف ښار بریښنا قطع کړی وه هغه پدی خاطر چې دهغوی په خپلو سیمو کی بریښنا نه درلوده . دغه مامور زیاته کړی وه چې دملیشه و دغه قوماندانان په خپلو سیمو کی دپاچا په شان امرونه چلوی اوهیڅ څوك دهغی مخ نیوی نشی کولای .

دوپوسته رژیم درسروبی فتح ودوپایه برق منهدم شد

دفتر شورای سرتاسری قوماندانان جهادی به خبرنگار دجهاد هنداره چنین اطلاع داده است درحالیکه عملیات مشترك مجاهدین بر مواضع واستحکامات نظامی رژیم کمونیست کابل از ولسوالی سروبی به استقامت ولسوالی بگرامی جریان دارد مجاهدین شب (٧) اسددوپوسته نظامی مهم رژیم را واقع درلته بند فتح ویکتعداد از سربازان این پوسته ها را با سلاح ومهمات نظامی شان اسیر نموده اند .

قوماندان انور خان که خود قوماندة عملیات جهادی ولسوالی سروبی رادر دست دارد به روز ٧ اسد خبر دادکه مجاهدین شب گذشته درمنطقه سرچینو وزیژی دریك برخورد مسلحانه با قوای متمرکزی رژیم درین منطقه دوعراده تانك ثقیل ویك لاری مهمات نظامی هدف سلاح ثقیل قرارداده کاملا تخریب نموده است گفته شده که عمله این این وسایط نظامی نیز به هلاکت رسیده اند .

منبع راپور داده است مجاهدین در منطقه گنده خسری دوپایه بلند ولتاژ انتقال جریان برق را نیز هدف قرارداده منهدم نموده اند.

باازبین رفتن این پایه های برق که شدیداًاز طرف ملیشه های رژیم مراقیبت میشوند انتقال جریان برق از سروبی بکابل کاملاً قطع گردیده است .

فریاد یك زندانی مسلمان تاجکی درروس

بعد از حمد وثنا پروردگار وسلام ودرود به پیامبر بزرگوارش برادرتان (دولتوف عبدالحمید) ویا ان چنانکه برادران افغان می شناسند (عبدالرحمن) ازسرزمین تاجکستان درجنوب اتحاد شوروی سرحد افغانستان راعبور کردم ودرجهاد ضد طغیان کمونیزم والحاد وظلم روسها اشتراك نمودم ووقت بازگشتم بسوی تاجکستان گرفتار شدم وحالا دوران قید خود را درزندان سیاسی (بیرما) سپری مینمایم ، ودراینجا باما عده یی ازیهودان نیز زندانی هستند که ازالطاف وتعاون یهودان دنیا برخودار اند وحتی علیه من بایهودیت وکفرستان مباهات وافتخار میکنند ومیگویند اگریهود میبودی ماکاری برایت میکردیم وفعلا مذاکراتی دررهایی انها جریان دارد .

برادران مسلمان !

امید وارم مرافراموش نکنید وفشار خود راعلیه روس ها ادامه بدهید تامرارها سازند برادران مجاهد افغانم ، برادرم سیاف ... وبرادرم حکمتیار وبرادران وزعما جهاد افغانستان امید که مراوقتی تبادله اسیران دراینده فراموش نکنید .

برادران وخواهران فلسطینی ام خداشما رااجروبرکت بدهد بخدأ قسم است که دوست داشتم که خون خود راازشما بیشتر درراه اسلام وازادی فلسطین بریزیم ودما رازروز کار یهود برارم امید است دررهایی من بکوشید .

ادرس زندان : (پیرماسکایا وبلیت / چوسوفسکی رایو / استیشن فیسیفیاتکایا / موسسه ب / س ٨٩/٣٥ /دولتوف عبدالحمید)

دهیئت تحریر ترنظر لاندی

مکاتباتي پته

پوست بکس (١٠٣٣)

یونیورسټي ټاون پیښور

تیلفون : ... ٨١٢٢٥١

٦ پوسته رژیم درسالنگ جنوبی تخریب گردید

به اساس گزارش دفتر سیاسی شورای قوماندانان مجاهدین بتاریخ ٢٧ سرطان بالای پوسته های غند ٦٤ وفرقه نمبر ٢ رژیم کابل درشاهراه سالنگ جنوبی حمله کردند که درنتیجه ٦ پوسته قوای رژیم کاملا تخریب وبیش از ١٠ تن صاحب منصب وعسکر به هلاکت رسیدند .

همچنان مجاهدین طی عملیات بتاریخ مذکور درامتداد شاهراه سالنگ جنوبی ٢ عراده تانك محاربوی و٣٣ لاری مملو از مواد اکمالاتی راکه تازه ازشوروی رسیده بودند به اتش کشیده اند .

درطی این حمله ٩ تن ازعساکر وصاحب منصبان رژیم کمونست هلاك و ٦ تن دیگر زخمی شدند .

همچنان ٤ میل توپ ازبین برده شده وبه مجاهدین تلفاتی نرسیده است .

«الیگزیندر پاکوف »له خپلی دندی څخه دګوښه کیدو غوښتنه کړی

مسکو داسد ،٦ مه

دنړیوالو خبری منابعو له خولی ویل شوی چې مسکو پخپلو تلویزیونی خبرو کی داخبرخپور کړی چې دګور باچوف ډیر نږدی ملګری «الیګزیندر پاکوف لیف» دصدارت له غړیتوب څخه دمستعفی کیدوغوښتنه کړی

خودایی ندی ویلی چې نوموړی استعفی منظوره شوه اوکه نه.خبر کی زیاته شوی چې دنوموړی صحت ښه ندی ، خودځنو منابعو له مخی ویل کیږی چې « یاکوف لیف» دګورباچوف دپخوانی مشاور اودبهرنیو چارو دپخوانی وزیر «شیواردنادزی » سره دنوی مخالف ګوند په جوړولو کی ملګرتیا کوی دیادونی وړده چې نوموړی دګورباچوف داصلاحاتی پروګرام له بنسټ ایښودونکو څخه ؤ .

مجاهدین درولایت جوزجان ٣ پوسته رژیم کابل رافتح نمودند

جوزجان ، میدیا :

یك منبع جهادی به میدیا گزارش میدهد که مجاهدین روز ٢٥ سرطان بالای پوسته های امنیتی پروژه انتقال گاز در ولسوالی اقچه ولایت جوزجان حمله کرده که درنتیجه ٣ پوسته رژیم درقریه سرخروی فتح یك نفر قوماندان ملیشه همراه با ١٣ تن از رفقای وی هلاك ٨ نفر اسیر ومتباقی فرار نمودند .

دراین عملیات ١٨ میل کلاشینکوف دومیل سلاح ثقیل و دودستگاه مخابره به غنیمت مجاهدین درامده است .

گزارش می افزاید دراین نبرد یك تن از قوماندان مجاهدین باچهار تن ازمجاهدین شهید و ٥ نفر دیگر مجروح گردیده اند .

به همین ترتیب میدیا گزارش می دهد که مجاهدین ولایت سمنگان یك حمله تعرضی دشمن رابتاریخ ٢٦ و ٢٧ سرطان که به منظور عقب زدن مجاهدین ازمنطقه دره بالا صورت گرفته بود به عقب زده ، وتلفاتی بی شماری بردشمن وارد ساختند .

طبق یك خبر دیگر به همین تاریخ دوعراده لاری نظامی رژیم توسط ماین های فرش شده مجاهدین منفجر ساخته شد که جمعا ١٦ تن از افراد دشمن دران به هلاکت رسیدند .

خبر می افزاید به اثر فیر قوای توپچی دشمن برقرا وقصبات ٧ تن از مردم محلی به شهادت رسیده وعده مجروح شده اند .

عملیات مجاهدین بلخ برپوسته های ولسوالی شورتیپه

بلخ ، میدیا :

یك منبع جهادی درپشاوربه میدیا راپور داده که مجاهدین شب ٢٧بر سرطان پوسته های امنیتی ولسوالی شورتیپه عملیات نمودند که درنتجیه سه پوسته رژیم کمونست کابل فتح تعدادی ازعساکر وملیشه هلاك و ٤٠ نفر دیگر با ٣٦ میل کلاشینکوف دومیل پیکا ، ومقداری مهمات به مجاهدین پیوسته اند .

طبق یك خبردیگر مجاهدین شب ٢٠ سرطان بالای ولسوالی دولت اباد این ولایت حمله نمودند که دراثر ان ٢٠ نفر از عساکر رژیم ملحد هلاك تعدادی مجروح و ١٠ نفر دیگر اسیر گردیدند .

طبق راپور مجاهدین درین برخورد یك موتر گاز ٦٦ ، چهارمیل پیکا ، ٥٠ میل کلاشینکوف چهارقبضه تفنگچه ومقداری مهمات رابطور غنیمت گرفته اند .